# شـربت گله!

**ناول**

لیکوال
اجمل اټک یوسفزی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بنگړیو پر ځای یې خپلې خور ته زولنې راوړلې  او په رڼا ورځ یې د زندان تورې دروازې ورپسې راوتړلې له هغې یو میړی هم نه و ازار شوی ، کلونه کلونه همدلته اوسېدله د خاپوړو ځای او خپل کلی ترې بېخي هیر شوی و ، وړه ماشومه وه چې توپان له خپل کلي نه په مخه کړه په سختو غرونو او کړنگونو یې واړوله او بې موره لور د خپلې نیا په غیږ کې همدلته رالویه شوه.

همدلته په ښه بده پوهه شوله ، همدلته یې ښې او چپ لاس وپېژانده ، همدلته پېغله شوه مور شوه او همدې خاورې ته یې د زړه ټوټې او د سترگو نور هم وروسپارلو.

د پنچشنبې ورځ وه ټول خلک اریان دریان او هیبت وهلي ښکارېدل په کلیو او لرې پرتو سیمو کې لا عام خلک د نوې بلا له زېږېدو خبر نه وو ، یوازې د کابل ښاریان حیران وو چې ولې په داسې یو ارام او منظم ښار کې د ډزو غږونه دي او د ښار له منځه لوگي خیږي ، دا په تاریخ کې لومړۍ ورځ وه چې د ټانگ ، درندو توپونو او د الوتکو د ډزو او بمبارد غږ خلکو په رڼا ورځ اورېده ، دا وخت په افغانستان کې یوازې دولتي اخبارونه ، مجلې او خپرونې چاپېدلې ازادې او خپلواکې چاپي خپرونې بېخي لږې او د گوتو په شمېر وې ، غږیزې خپرونې هم دومره نه وې او یوازې د کابل راډیو په لنډو څپو کې خپرونې درلودې همدا وخت په نړۍ کې تخنیک پرمختگ کړی و او په ځینو اروپایي او نورو پرمختللیو هېوادونو کې د ټلویزیون په نوم یوه انځوریزه مطبعاتي لړۍ هم پیل شوې وه خلکو به په کې د خپل هېواد او نړۍ خبرونه او نور معلوماتي پروگرامونه لیدل.

کابل کې هم ټلویزیون د اروپا په شان کابو تیار و چې خپرونې پیل کړي په نورو ولایاتو کې هم د بیا بیا سوځولو او گواښونو سره سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سينما په نوم د فلمونو د ننداري په خاطر سينماګانې موجودې وي او خلک به د هندي فلمونو ننداري ته ورتلل.

پېښور کې هم سينماګانې وې خو په هندي فلمونو بنديز و او د محکومې پښتونخوا اکثره خلک به کابل ته د ننداري دپاره راتلل.

که څه هم افغانستان د تاريخي قدامت له مخې د هر عصر د تمدن او پرمختګ مزکر او کوربه هېواد پاتې شوی و د اريايي لرغوني تاريخ د ام البلاد يا د ښارونو د ناوې لقب او نوم يې خپل کړی و خو وخت په وخت پرې داسې چپاوونه او يرغلونه راغلي وو چې هر ځل يې د افغانانو کورونه وران کړي وو او د پرمختګ مخه يې ډپ کړې وه.

په همدې ورځ هم خلک حلق دلق وو نه پوهېدل چې ولې او د څه دپاره درنې ډزې روانې دي او د ښار د زړه نه لوګي خيږي ، که څه هم دا ټولنه يوه قبايلي او ګڼ پرګنيزه ټولنه وه اکثره خلک يې نالوستي ، غريز او کليوال وو کروندې او مالداري يې درلودلې د ټوپک او تورې سره اشنا وو خو دا د نن ورځې د ښار درنې ډزې او په کليو کې د زوی د زوکړې او کوژدنې د خوښۍ ډزې ډېرې سره بل رنګ وې ، په کابل کې اکثره پو ، مسلکي او لوستي خلک اوسېدل مياشت له لومړۍ شپې معلوميږي هغوی پوهېدل چې دا وړه نه شړۍ کيږي نو ځکه ترور او پريشانه ښکارېدل ، اکثره د لوړو بامونو پر سرونو ولاړ وو او د لوګي ځای ته يې په ځير ليدل چې په اصلي خبره پو شي.

چا بيا راډيو ګانې غوړونو ته نيولې وې چې د کابل راډيو به څه وايي خو له بده مرغه د کابل چالانه او شړنګېدلې راډيو هم ګونګه وه لکه پېغلې سندرمارې او چمبه مارې جلۍ ته چې چا رانجه ورکړې وي او له سندرو ډک ستونی يې بند شوی وي هيڅ غږ ترې نه خوت ، لړه شېبه لا تېره نه وه چې د کابل راډيو له ګونګ ستوني غږ راووت ، ملي نغمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او شعارونه پيل شول وياندويان او غږونه بدل وو اکثره نظامي صاحبمنصبان وو او د انقلابي شوراى د مشر پيغامونه يې خپرول خو په منځ منځ کې به يې ولس ته د انقلاب د بري زيرى ورکولو او ويل به يې چې د تل دپاره يې د توريږ ارتجاع نه وطن او خلک خلاص کړل ، د انقلابي شورا د ريس پيغام به بيا بيا خپريده او ويل به يې چې تاسو ډاډه او مطمين اوسئ د انقلاب زړه ورو سرتېرو ټول هېواد ونيوه او د پخواني مستبد او ظالم نظام بنياد ونړيده ، درگرده به د بزگرانو ، خوارانو او دهقانانو د حقوقو او د مساوي او برابر ژوند شعارونه ورکول کېدل ، د فيوډاليزم ، کپيټليزم ، سرمايه دارۍ او پانگه والۍ په ضد به هم شعارونه ورکول کېدل او پرلپسې به مرگ په خاينانو ، خانانو ، ملکانو او د پخواني پاچا په پلويانو او شاهي کورنۍ ويل کېده ، بيا به غږ شو چې د خلکو زور د خداى زور دى او نن د دې وطن مبارزو او زړه ورو خلکو او خلقي سرسپارليو ځوانانو د تاريخ د جبر نه دا وطن نور د تل دپاره وژغورلو او د طاغوت په تابوت يې وروستي ميخونه ټک وهل ، بيا به احساساتي غږونه شول چې وه کنجۍ خراړې او د يو گوزاره ولاړې بيا به جوخت وويل شول چې نور نو د يوې کورنې او استبداد واک ختم شو حکومت د خلکو شو او د خلق ديموکراتيک گوند به مساوات تامينوي.

که څه هم د کابل راډيو په وينا ارگ او ټول ملک د خلق د ډيموکراتيک گوند د خلقي ځوانانو له خوا نيول شوى اعلانيده او ويل کېدل چې په ټول هېواد کې د پخواني لاسپوڅي او استبدادي نظام د پلويانو مقاومت وځپل شو او ختم شو خو بيا هم په ارگ کې ډزې روانې وې او د ارگ د دننه نه د مقاومت انگازې راتللې د ارگ ټول امنيتي او محافظتي عسکر او ضابطان وژل شوي او نيول شوي و خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلم وطنجار لا هماغسې خپل ټانګ ته ناست و او د ارګ ودانۍ يې ويشتله چې د خلق د ډيموکراتيک ګوند کوده تاچيان ورننوتل په ارګ کې يوازې جمهور ريس سردار داود خان او د هغه ميرمن ، اولادونه او لمسيان وو ، د داود خان ميرمن او اولادونه لا ښخوا شهيدان شوي وو او ښايي د ټانګ ، توپونو او الوتکو په ګوليو به لګېدلي وو خو لمسيان ، انړور او بابا يې لا ژوندي وو ، د داود خان معيوبه خور عايشه هم له خپل بايسکلګي لاندې پرته وه او ماغزه يې پر ځمکه شيندل شوي وو .

انړور يې شيما خپل دوه ماشومان په غيږ کې ټينګ نيولي وو او دېوال ته يې تکيه کړې وه چې کودتاچيان ورننوتل لومړی يې شيما او بيا يې د هغې دوه ماشومان وويشتل او بيا يې داود خان ته د تسليمۍ وويل ، داود خان دا مهال زخمي شوی هم و او نيم وجود يې پخپلو وينو لمبولی و، داود خان خپله تمانچه لاس کې نيولې وه او په کودتاچيانو يې ډزې کولې هغه ويل زما په ذات او شان کې تسليمېدل نه شته او نه به تاسو ته لاسونه پورته کړم ، زه له خپل خدايه پرته بل چا ته نه تسليميږم يا د شرافت ژوند يا د شرافت مرګ همدا وو چې د انقلابي شورا مشرانو يې د وژلو حکم وکړ او د ملي اردو په صف کې د کونډو يو کمونيسټ لومړي بريدمن ښه په بې رحمۍ پر سر او ټټر وويشت لکه زخمي شوی زمری پر ځمکه پرېوت او سترګې يې پټې کړې.

خلقي ځوانانو چې هوا ګزوله ، پر بچه ولاړ او د کشمير ننداره يې کوله د دغې ورځې په ارمان وو خوشاله شول او د خوښۍ د دود له مخې يې په هوا کې ډزې پيل کړې هورا ، هورا ، هورا شوه او يو بل ته يې مبارکي ګانې ورکولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه لومړي بريدمن چې سردار يې وويشت ، سردار داود خان هم د خپل شهادت نه مخکې خپل کار کړی و او بريدمن يې په لاس ويشتی او ټپي کړی و کوده تاچيانو لومړی بريدمن روغتون ته ورسولو خو د سردار داود خان ماشومان ، لمسيان ، ميرمن او د کورنۍ شپږ پنځوس نور غړي لا هماغسې په ميدان کې په وينو رنګ پراته وو چې د خلق ديموکراتيک گوند د رهبرۍ شورا د ارگ دروازې پرانيستلې او ارگ يې د خلکو کور ونوماوه.

خلک چوپې چوتې راننوتل د ارگ او په ارگ کې يې د سردار داود خان د کورنۍ د مړو ننداره کولې.

تر ماښامه د خلق گوند خپل حکومت اعلان کړ او دوه شپېته کلن نور محمد تره کی د انقلابي شورا عمومي منشي او لارښود وټاکل شو.

ټول کابل سرو بيرغونو او سرو شعارونو ونيوه خلقي ځوانانو چې خپل خاص شکل او رنګ درلود ټولو اوږدې اوږدې شقيقې او لوی لوی بريتونه درلودل ټول راښکاره شول او د زنده باد چغې يې وهلې ، سور انقلاب يې ستايلو او ويل به يې دا کاروان په شا نه ځي ، ځي د کهکشان په لور.

خو خبر نه وو چې په زور کلي نه کيږي نه شنډه ونه مېوه نيسي او نه اوبه بره خيږي.

داسې سپېره او خونړۍ پنجشنبه کله هم د افغانستان په پنځه زره کلن تاريخ کې نه وه راغلې په همدې ورځ په ټول هېواد کې د خلقي نظام سياسي مخالفين ونيول شول ، بې محاکمې او بې پوښتنې ووژل شول د سرونو لو او د سرو وينو سيلاب جاري شو. هوښيار او په وطن مين خلک خفه او اندېښمن شول ځکه وايي پيل يې گوره او پای يې پرې قياسوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور محمد تره کی که څه هم د یوې غریبې او بې وزلې کورنۍ بچی و او د غزني ولایت د ناوې په سره کلي کې زېږدلی و خو د خپل پلار په هڅه ونه له زده کړې بې برخې شوې نه و او بیا وروسته د ښې وړتیا له مخې د خپل کاري شرکت له خوا ان هند ته لیږل شوی و او هلته یې دشپې پوهنځې او د انګلیسي ژبه زده کړې وه چې په همدې لړ کې بیا په امریکا کې د افغان سفارت مطبوعاتي مامور هم پاتې شوی و په کابل کې هم د هغه وخت د معتبر دولتي خبري اژانس د باختر تر ماموریت او مرستیالۍ ور رسیدلی و او په پښتو ادب کې د ناول او لنډو کیسو د لومړنیو لیکوالو په کتار کې راتللو خو د لیکلو کیسو او ناولونو ټولو اصلي کرکټرونه یې د ظلم او فیوډالیزم خلاف څرخېدل ، طبقاتي مبارزه یې کوله او خلک یې د ټولنې د مستبدو واکمنانو په وړاندې ننګول ، چې مطلب یې شاهي نظام و د هماغه نوي سیاسي غورځنګ ( ویښ زلمیان ) چې د وخت د غوښتنو سره سم د یو شمېر ویښو او مبارز ځوانانو له خوا رامنځ ته شوی و نو نور محمد تره کی یې هم د غورځنګ مخکښ غړي و چې بیا یې وروسته خپله لاره بدله کړه او باالاخره یې د سیاسي لید لوري سره سم چې مارکسیستي مفکوره یې درلوده د یوه ، یویشت کسیز هیت په مشرۍ د افغانستان د خلکو دیموکراتیک ګوند جوړ کړ او نور محمد تره کی یې عمومي مشر او منشي شو.

له همدې ورځې یې په سیاسي جلب او جذب او د موجوده نظام خلاف مبارزه پیل کړه او لکه چتی یې اسمان په پښو راټینګول غوښتل.

تره کي خپله اولاد نه درلود نو ځکه به بیا خلکو ویل چې تره کي د خپل اولاد مینه او درد نه دی لیدلی نو ځکه ورته د نورو خلکو بچي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم هسې عبث ښکاري او د سردار داود په ماشومانو يې هم هيڅ زړه ونه سېځلو.

او همدارنگه به د کابل ښاريانو کله کله له ډېرې کرکې پټې ټوکې کولې او ويل به يې چې د تره کي ميرمن خپل بوټان په يخچال کې کېښودل چې گوندې دا به د کابل يخې الماری وي په هر حال د انقلابي شورا مشر او عمومي منشي نور محمد تره کي له همدې لومړنۍ ورځې د فرمانونو په صادره ولو پيل وکړ او بې شمېره فرمانونه يې صادر کړل.

د تېر نظام ملي سرود:

څو چې دا ځمکه اسمان وي
څو چې دا جهان ودان وي
څو چې ژوند په دې جهان وي
تل به دا افغانستان وي
تل دې وي افغان ملت
تل دې وي جمهوريت
تل دې وي ملي وحدت
تل دې وي افغان ملت جمهوريت
تل دې وي افغان ملت جمهوريت
ملي وحدت ملي وحدت.

بېخي بند شو او د خلق د ډيموکراتيک نظام د خپلې سياسي ايډيالوژۍ سره سم خپل نوی ملي سرود وغږاوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



گرم شه لا گرم شه
ته ای مقدس لمره
ای د ازادۍ لمره
ای د نیکمرغۍ لمره
دا انقلابي وطن
اوس د کارگرانو دی
دغه د زمرو میراث
اوس د بزگرانو دی
تېر شو د ستم دور
وار د مزدورانو دی
گرم شه لا گرم شه
ته ای مقدس لمره
ای د ازادۍ لمره
مورِه نړۍ والو ته
سوله او وروري غواړو
مورِه زیار ایستونکو ته
پراخه ازادي غواړو
مورِ ورته ډوډۍ غواړو
کور غواړو کالي غواړو.

د نړۍ خلک هم د افغانستان ناڅاپي او بریالي انقلاب ته حیران او گوته پر غاښ وو حالات هم ډېر ترینگلي و د اتلسمې او نولسمې پیړۍ ستر قدرتونه فرانسه او انگلستان چې په نړۍ کې یې امپراطوري گانې درلودې او د انگریزانو د قدرت او امپراطورۍ ټغر یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له افغانستانه بیرته راتهول شوی و دا وخت په نړۍ کې هومره یاد او مطرح نه وو بلکې نړۍ پر دوو نورو قدرتونو ( قطبونو ) ویشل شوې وه او ستر مادي قدرتونه د امریکا امپریالیزم او د روسانو کمونیزم و ، امریکا خو په هر حال خو خلک د کمونیزم او د روسانو د یرغلونو او پرمختګ نه اندېښمن وو او هیڅا داسې نه انګېرل چې دا بلا به ګنې ماته هم شي

روسانو دا مهال د مارکس او لینین په اقتصادي او د مساواتو په فلسفو او مفکرو کابو نیمه نړۍ نیولې او خپله کړې وه او ان د جرمني غوندې یو لوي او قوي هېواد یې هم د برلین په دېوال په غربي او شرقي جرمني ویشلی و.

اروپا او منځنۍ اسیا یې لا پخوا نیولې وه او په افغانستان کې لا له پخوا نه افغاني کمونستانو روسان خپل خواخوږي او سکني ورونه بلل.

همدې اندېښنې نړۍ نوره هم ترور کړې وه ځکه روسانو غوښتل چې منځنۍ اسیا له وچې اوباسي او بیرته یې د هند د تودو اوبو په واسطه له نړۍ سره ونښلوي.

په هند انګریزانو کلونه بې غمه حکومت کړی و او حتي خپل ډېر قوانین یې تر دې دمه په ژوندي یادګار پریښي وو او د ماتې او تیښتې نه وروسته یې لوی هند او لوی افغانستان ویشلی وو د دغو لویو هېوادونو تر منځ یې یو بل هېواد د خپلو ګټو ، سیاسي ستراتیژیو او په حقیقت کې د وخت د ستر ځواک روس په مخ کې یو سنګر رامنځ ته کړی و.

که څه هم پاکستان محمد علي جناح چې تر ننه یې اصلي هویت معلوم نه دی د هند د ملیونونو مسلمانانو نه د اسلام په نوم رابیل کړ خو تر دې دمه په کې نه اسلام او نه هم اسلامي قانون نافذ شو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدغه تازه جوړ شوي هېواد سره د افغانستان د خلکو او دولت حقوقي دعوې او سیاسي لانجې روانې وي ، د ظاهر شا حکومت نرمه پالیسي درلوده او سیاسي حل یې لټولو چې د ډیورنډ لاین مسله په سولیز اوحقوقي بڼه په نړۍ واله توګه حل کړي او تر اټکه بیرته د لوی افغانستان پوله وټاکي او کابو څلویښت میلونه بیل شوي افغانان بیرته د خپل اصلي او مرکزي حکومت سره یو ځای کړي خو پر ظاهر شا د هغه د تره د زوی سردار داود خان سپینه کودتا او د واک نیول او د هغه جدیت او قاطیعیت د پاکستان حکومت ډېر وارخطا کړی و او همدې ورخطایۍ وهڅول چې په افغانستان کې سردار داود خان ته کورنۍ لانجې پیدا او تقویه یې کړي او دپلو لاندې ملي، خښې کړي د پاکستان د همدې پلان او سیاسي ستراتیژۍ په ترځ کې د افغان حکومت سیاسي او نظریاتي مخالفانو ته هم یو ښه او تاریخي فرصت پیدا شو ترڅو د نظام په وړاندې ودریږي او بیا د ماتې او شکست په وخت کې له هېواده بیرون ګاونډ ته وتښتي او سر په سیوري کړي.

مورټمر ډیورنډ اصلا یو انګلیس و او هغه وخت په هند کې د انګریزانو خارجه وزیر و په نولسمې پیړۍ کې د افغان حکومت او د انګریزانو تر منځ دوه لوی او خونړي جنګونه وشول او انګریزان له ماتې او پرشاتګ نه وروسته په دې پو شول چې په افغان او افغانستان حکومت نه شي کولای نو یې وپتیله چې د وخت امیر سره د افغانستان او برطانوي هند کرښې او قانوني سرحدونه اوباسي چې په دې ډول د یو بل د بریدونو او جنګونو مخه ونیسي امیر عبدالرحمان خان چې د امیر دوست محمد خان ( بارکزی ) لمسي او د افضل خان زوي و دا وخت د افغانستان امیر او واکمن و . امیر عبدالرحمان خان په میړانه خپل ویشلي هېواد له هراته تر امو راټول کړ او د روس ، ترکستان او پارس

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره يې د سرحدونو د ټاکلو تړونونه وکړل خو په همدې وخت کې انګريزان هم خورا ورخطا وو او د سرحدونو ټينګار يې کولو که څه هم د امير عبدالرحمان سره د انګريزانو تړون او د ډيورنډ لاين د لاسليک مسله لا تر اوسه د شک او ابهام تر ګردونو لاندې ده خو بيا هم د ۱۸۹۳ م کال نه راوخله تر ننه پورې د افغانستان يو حکومت هم دغه کرښه په رسميت نه ده پيژندلې بلکې قبايلو ، وزيرو او مسيدو په وار وار هماغه وخت د برطانوي هيت چې د ډيوړند کرښه او سرحد يې ټاکلو خيمې او کيمپونه ورسيځلي دي خپله کرکه يې ښودلې ده او په هيڅ شان يې ځانونه د خپل پلرني هېواد افغانستان نه بيل نه دي ګڼلي.

لنډه دا چې کله په ۱۹۴۷م کال کې انګريزان ووتل پاکستان جوړ شو او د برطانوي هند هر څه چاوښۍ ، تړونونه او ودانۍ نوي زيږيدلي هېواد پاکستان ته پاتې شوې سر سر او کونه ستر ټول د پنجاب په برخه شول په کابل کې هم د انګريزانو د سياسي سفارت ودانۍ پاکستان ته پاتې شوه همدا د افغان حکومت دپاره ښه شېبه وه چې د لاس غوټه په لاس ايله کړي او غاښ ته يې پرېښږدي خپلې سيمې او ملکيتونه بېرته ونيسي خو د ظاهر شاه حکومت مطلق بې غوري وکړه په ۱۹٦۵م کې پاکستان په خپل ټول توان هند سره په پوځي نښته اخته و او افغان حکومت په ډېرې اسانۍ سره بيرته خپلې ځمکې نيولای شوې او همدارنګه بيا کله چې په ۱۹۷۱م کې بنګال بيلېده او افغان حکومت د پاکستان ننګه وکړه او د شا له خوا يې په خپل دښمن بريد ونه کړ او يو بل طلايي چانس هم خاورې شو همدا لامل و چې د بنګال د جنګ نه وروسته د پاکستان د حکومت مشر د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا ته د ملاقات په وخت کې ویل چې زه له شرمه ستا سترگو ته نه شم کتلای او د پاچا پښو ته یې لیدل.

دا لا پوره جوته نه ده چې محمد ظاهر شا په داسې حساسي ، حیاتي او مهمه ملي مسله کې ولې داسې پڅ او مړ دریځ درلود او د غوڅ دریځ خاوند نه و.

محمد ظاهر شا د پخواني پاچا محمد نادر خان ( محمدزي ) زوی و او پاچاهي ورته په میراث کې پاتې شوې وه.

محمد ظاهر شهزاده نه و خو د یوه سپاه سالار زوي و. داسې سپاسالار چې هیڅ وخت به کور کې نه و او د وطن او خلکو په خدمت کې به ورک ورک و ، د کور ژوند یې هم ښخي عادي او د عامو خلکو غوندې و د محمد ظاهر پلار د خپلواکۍ تر گټلو وروسته په هېواد کې دویم سړی و او هغه وخت پاچا شو چې د غازي امان الله خان حکومت د بلواگرو په وړاندې نسکور شو او د قومي جرگې د پرېکړې له مخې محمد نادر خان د هېواد پاچا ونومول شو څلور کاله وروسته بیا ووژل شو او زوی یې محمد ظاهر په خامه خوله د هېواد پاچا شو.

دا همدا د ظاهر شا د پاچاهۍ کلونه و چې هند وویشل شو او پاکستان وزیږېده محمد ظاهر شا کابو څلویښت کاله پاچاهي وکړه په پای کې د خپل تربور او اخښي سردار محمد داود خان له خوا په یوه سپینه کودتاه کې له واکه بې واکه شو خو محمد ظاهر شا هم د غازي امان الله خان غوندې د قدرت پر سر کورنی جنگ پیل نه کړاو د غازي امان الله خان هماغه خبره یې تکرار کړه چې ویل یې که د یوه افغان پوزه هم زما د قدرت د نیونې په خاطره وینې کیږي نو زه دداسې قدرت او واک نه تېر یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د خلق دیموکراتیک گوند له خوا پر داود خان خونړۍ کوتاده هم گونډیان اندېښمن کړل او هم یې د خپلو پلانونو د عملي کولو دپاره هیله من کړل کرل او ړیبل پیل شول .

چې کال ورندی شي نو ټینټاره هم وهنه کوي گاونډیانو په افغانستان کې همداسې شر له خدایه غوښته چې د دوی په کې خیر وي او غواوې یې لنگې شي.

د انقلابي شورا عمومي مشر او د ثور د انقلاب ستر لارښود نور محمد تره کي اتم نمبر فرمان صادر کړ د عامو شتمنو خلکو شخصي ملکیتونه یې ضبط او دولتي کړل ځمکې یې شپږ شپږ جریبه په بزگرانو وویشلې په اوم نمبر فرمان کې یې ولور فقط درې سوه افغانۍ کړې و او بل کې یې گرویگانې معاف او بخشش کړې وې. گروي او په ځانگړي توگه ولور د اسلام له مخې هم یو ناروا او مردود عمل و خو دا د خلکو د کلتور او دود یوه کلکه او لویه برخه گرځېدلې وه او د حکمت په ځای په دې ډول عاجلو او احساساتي فرمانونو نور هم حساسیتونه د خلق دیموکراتیک دولت ته ور زیات شول بوساړې ته یې تیلی ورته کړ او حالات لا پسې ترینگلي شول خلک د خلقي نظام په وړاندې نېغ شول د انقلاب په وړاندې بغاوت ته وننگېدل او په عینې حال کې د خلق دیموکراتیک نظام د هیچا سیاسي مخالفت هم نه شو منلای او زغملای تر دې دمه په زرگونو سیاسي مخالفین او پخواني مامورین ، ملکان ، خانان ، علماء او محصلین نیول شوي ، ورک شوي او وژل شوي وو.

استادانو به په ښوونځیو او پوهنتونونو کې په ښکاره په خپلو لکچرونو کې په دین ملنډې وهلې او د خدای د ذات په هکله به یې ویل هر هغه څه چې په سترگو نه لیدل کیږي هغه د منلو وړ نه دي یا به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل چې انسان اصلا له بیزو پیدا شوی دی او د وخت په تېرېدو ترې لکۍ پرېوتې او شکل یې بدل شوی دی.
سل خبرې او سر یې یو د تره کي کړنو خپل نږدې ملګري هم وننګول او اخره یې دا شوه چې خپل همفکره خپل وفادار شاګرد او په اصطلاح خپل ورور حفیظ الله امین ورته بلا شوه پر خوله یې ورته بالښت کېښوده او ښه په ارامه یې ووژلو.
د امین تر وینا مخکې او وروسته یې دا ترانه په راډیو کې وغږوله چې:

ای د نیکمرغۍ خاورې تا ته مو سلام دی
ستره تیاره تېره شوه ستا خوارو بچو باندې
ښه شوله چې تېره شوه ستا خوارو بچو باندې
هره تیاره پای لري خلکو ولسو باندې
لمر د عدالت وخوت ستا په جګو غرو باندې
اوښکې دریابونه شوې واووښتې څپې څپې
ډوب یې تور قصرونه کړل ظلم یې ذرې ذرې
ماتې ککرۍ شولې والوتې نښې نښې
شین شو مرور اسمان ښکلې شوې درې درې
ای د ازادۍ خاورې تا ته مو سلام دی
ای د نیکمرغۍ خاورې تا ته مو سلام دی.

د تره کي دوره یې ختمه کړه او د خپلواکۍ لمر یې پر جګو غرونو وځلاوه.
حفیظ الله امین عام او تام واک خپل کړ د ظلم ، زور ، تشدد ، ترور او وژنو یو بل دور پیل شو ، په زرګونو سیاسي روحاني ، ملي ، قومي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مذهبي مخالفين بيا ونيول شول او په ډليز ډول تر بلدوزرونو لاندې شول امين په لنډ وخت کې ډېره منډ وکړه ډېر ګړندی او په سرعت خوشې و او همدا تېز تګ يې د مرګ لامل هم شو وايي رفتار تيز استقبال مرگ است د امين سر زوري او سر کښي په خلق ګوند کې نور درزونه هم پيدا کړل د تره کي خواخوږي او د پرچم ډلې تربګني او دښمني ورسره نوره هم ډېره شوه ، امين په امريکا کې وخت تېر کړی و او له همدې خبرې د پرچم ډله او نور کمونستان په اندېښنه کې وو.
شک يې درلود چې ښايي امين په امريکا کې د اوسېدلو او د ماستري په مهال د امريکا د امپرياليزم د نظام تر اغيز لاندې راغلی وي او امريکايي پلوه شوی وي.
له تش ټوپکه دوه تنه ويريږي ، روسان پرې پرچميانو بدګمانه کړل امريکايان خو يې هسې هم له مارکسيستي افکارو اندېښمن وو او ګاونډيان يې له قاطعيت او جديته لا له پخوا په وېره کې وو دا تبليغات د يوې ډرامې په بڼه د امين سياسي کمونستي ملګرو يعنې پرچميانو د ببرک کارمل په مشوره پيل کړل او غوښتل يې چې د روسانو خواخوږي خپله کړي او امين له منځه يوسي چې باالاخره همداسې وشول.
که څه هم شپونکی خپلې مېږې ښې پېژني خو بس د اجل سترګه ړنده وي دلته روسانو بيړه وکړه او د استخباراتو ځانګړو ځواکونو يې په امين بريد وکړ او دومره تلوار يې و چې لا د امين له ستوني سا نه وه وتې چې روسانو په کابل راډيو کې د ببرک کارمل ثبت شوی پيغام خپور کړ او د امين د واک پای يې اعلان کړ.
هغه خلقيان چې د امين تربوران شوي وو هغوی هم د پرچميانو سره لاس يو کړی و او د امين د مرګ په ورځ يې حتی د امين پر شپږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



میاشتنې زوی هم ترحم وه نه کړ د مور له پستې غیرې یې واخیست او تر ننه یې ورک کړ .

په دې ډول د روسانو د صبر کاسه ډکه شوه برژنیف اخر لکۍ تاوه کړه او سوته یې گوزاره کړه.

د ببرک کارمل راتگ او د روسانو بربنډ تیري حالات نور هم کړکیجن کړل خړ سپی هم د لېوه ورور دی کارمل او روسانو لا ځمکه توده کړه د امریکایانو او اروپایانو هغه ویره رښتیا شوه چې روسان لا روان دي او تودو اوبو ته ځان رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دویمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کارمل او روسانو راتګ او د دغو دواړو ډېلو ظلم او تشدد نور هم اور بل کړ د جنګ په خشاکو یې پطرول وشیندل او اور نور هم ژبغړاندی شو د کمونستانو په وړاندې د اسلامي انقلاب د غورځنګ غړو او ځوانانو هم په رسمي بڼه جهاد اعلان کړ او افغاني مبارزه یو ځل بیا نړۍ واله شوه که څه هم د روسانو د تیري نه لا وړاندې ولس د کمونستانو په وړاندې پاڅون کړی و په کونړ کې ولس غرونو ته ختلی و د کمونستانو په وړاندې یې مبارزه پیل کړې وه او د اسلامي غورځنګ غړو ( جوانان مسلمان ) خو لا تر کمونستي انقلاب دمخه یو ځل د سردار داود خان په وړاندې هم یو ناکام پاڅون په لغمان، ننګرهار او پنجشیر کې کړی و چې بیا یې ځینې مشران د احمدشا مسعود په ګډون له هېواده وتښتېدل د کلیوالو په ساده وینا چې وایي د پاده وان په خپلې غوا نظر وي دوی هم لومړی ټل میرام شا او بیا د پېښور په بالاحصار کې د نصر الله بابر له خوا د میلمنو په توګه وساتل شول.

د اسلامي ګوند بنسټ لا پخوا په کابل پوهنتون کې د شریعاتو د پوهنځي استاد رحیم نیازي ، غلام محمد نیازي او نورو استادانو له خوا ایښودل شوی و چې د اسلامي نړۍ د نورو اسلامي بنسټونو خواخواږي هم ورسره وه په ځانګړي توګه په همدې وخت کې په مصر ، هند او پاکستان کې هم اسلامي ګوندونه وو په مصر کې اخوان المسلمین ، او په برصغیر کې د مسلم لیګ ( مودودي افکار ) په نوم اسلامي نهضتونه په کړنو جلب او جذب اخته و د پاکستان د اسلامي ګوند مشر قاضي حسین احمد او نور غړي یې هغه وخت کابل ته تلل او راتلل خو د جوانان مسلمان د غړو د ناکام پاڅون نه وروسته د وخت حکومت د دوی په تګ راتګ بندیز ولګاوه او بیا هماغه و چې قاضي

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسین احمد اوبو کې لوټه کېښوده خپل ساز او سامان یې بدل کړ او کابل ته به د تجارت او تاجر په نوم او بڼه راتللو د کاسې لاندې یې نیم کاسه یښې وه بیا به یې په پټه د برهان الدین رباني او د اسلامي غورځنګ له نورو مشرانو او غړیو سره لیدل او د افغان حکومت په وړاندې به یې هڅه ول لور یې پر لوټه تېره کاوه او خپل ماموریت یې تر سره کولو.

د کمونستانو کوتاده او د روسانو یرغل نور د ګاونډیانو کار اسانه کړ او په ښکاره ډول یې د کابل حکومت مخالیفینو ته غیرې پرانیستلې اسلحې او پیسې یې ورته راټولې کړلې او تر سنګرونو یې وړورسولې خبره ډاګیزه او د شف شف په ځای شفتالو ته ورسېده.

د کمونستانو ظلم او تشدد او د سرو روسانو یرغل او په یو اسلامي هېواد کې د اسلامي شعایرو توهین او سپکاوي اسلامي نړۍ هم دې ته وننګوله چې د افغانانو مبارزه د کفر او طاغوت په وړاندې حقه او جهاد وبولي او ملاتړ یې وکړي.

همدې شېبې ته چې امریکا او اروپایانو پوره اویا کاله انتظار ویستی و یوه غوړه او وړیا مړۍ شوه او ټولو د مجاهدینو ملاتړ ته ملا وتړله.

د امریکا جمهور ریس ریګن د تنظیمونو رهبران واشنګټن ته وبلل ان تر دې چې د اسلامي حزب مشر مولوي محمد یونس خالص ریګن ته هم د اسلام د منلو او قبلولو بلنه ورکړه او د حزب اسلامي مشر انجنیر حکمتیار هم د ریګن په بلنه واشنګټن ته ولاړ خو د ریګن سره د لیدلو او ملاقات غوښتنه یې ظاهرا رد کړه.

د امریکا لاس د تیرې لاندې و او د خپل مطلب له پاره یې بیا هم دوی ښه ډېر ونازول او تر اخره د انجنیر حکمتیار ونډه او برخه تر نورو ډېره او غوړه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم مجاهدین لکه د تاریخ د تیرو پېښو په شان ټول عام ولس و چې د کفر او الحاد په وړاندې یې تورې ، لرونه ، تبرګي او خپل زنګ وهلي ټوپکونه راواخیستل او په تش لاس د یوه نړۍ وال مادي زبرځواک په وړاندې ودرېدل په پټه او ښکاره یې ګوزارونه پیل کړل خو دا ځل نړۍ بله وه او لکه د انګریز ، مغل او نورو یرغلګرو په څېر زموږ مبارزینو ، غازیانو او مجاهدینو خپله ملي او طبیعي مشري نه درلوده او د نورو په لاس د جوړو شویو تنظیمونو په سیاسي چوکاټ کې پرېوتي وو که څه هم یو اسلامي ګوند د ثور تر انقلاب وړاندې په کابل کې جوړ شوی و خو دلته حالات بدل شول او په همدې وخت کې نابېره یو نظامي جنرال د پاکستان لومړی وزیر ذوالفقار علي بوټو وواژه او واک یې ونیوه.

دا جنرال ضیاءالحق نومیده او په ښکاره یې ځان یو مسلمان او د اسلامي عقیدې او مبارزې مخکښ څرګنده وه خو وروسته یې اعمالو ښکاره کړه چې بشره د انسان او کار د شیطان و.

د سیاست او د دنیا نه ناخبرو مظلومو او بې وزلو افغانانو ضیاءالحق هم لوی مجاهد او غازي ګڼلو ټولو مهاجرو میندو به ورته د هر لمانځه پسې سم لپه لپه دعاګانې کولې د ټولو زړونو کې یې ځای خپل کړی و او دومره مینه ورسره مظلومو او بې کوره مهاجرو لرله چې کابو د هر نوي زېږېدلي هلک نوم به خامخا ضیاءالحق ایښودل کېده. جنرال افغانان خپل وروڼه بلل ، پاکستانیان یې د اسلامي عقیدې له مخې انصار او افغانان یې مهاجر ګڼل او ویل به یې چې که په افغانانو اوس جهاد فرض دی نو په موږ یې حمایت او ملاتړ فرض دی او د افغانستان روان جهاد یې په حقیقت کې د پاکستان دفاع ګڼله ، په همدغه وخت کې د جهاد سنګرونه ښه تاوده و ډېر دولتي تاسیسات،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوستې او وسلې مجاهدینو نیولې وې او دا برې همداسې په کش کې روان و چې ولس هم د کمونیزم خلاف ، نړۍ یې هم مخالفه وه او اسلامي نړۍ هم ښه پوره خواخوږي درلوده نو ددوی ټولو مرسته د مجاهدینو سره وه او جهاد په بریالیتوب سره روان و چې جنرال ضیاء الحق ته دا برې د مجاهدینو وروړولي او اتفاق ښه ښکاره نه شو او فکر واخیست چې که د نړۍ والو همداسې مرستې او خواخوږیانې وي نو لرې نه ده چې په څو میاشتو کې روسان تېښتې ته اړ شي میدان به پرېږدي مجاهدین او عام ولس به قدرت ونیسي او بیا به یو سم قوي او منظم حکومت رامنځ ته کړي نو دا وخت به زموږه هیلې هسې لکه د لمر وړانگو ته پر یخ لیکل وي او بس.

افغانستان به د نړۍ اتل او نازولی شي او دا سټینگر ، لوناگان ، کروز دا موډرنې او پرمختللې ټولې تخنیکي وسلې به د دوی حکومت او ملي اردو ته پاتې شي چې بیا به یې نو دوی د مقابلې او پرتلې وړ نه وي او د پښتونستان او ډیورنډ مسله به ددوی له واک او اختیار نه وه ووځي وایي باغ چې پوخ شي باغوان یې کوږ شي د جهاد بریا ، ثمر او ظفر همدغو اندېښنو په سر واخیست او باالاخره یې د مجاهدینو د ویشلو ، تابع کولو او راخپلولو په نیت د مجاهدینو یو دوه تنظیمونه درې څلور او اخر اووه کړل اوبه یې له سره خړې کړې ، هر یو یې من من کړ او باالاخره یې سره غوښه او جاړه کړل.

یو ځل خو یې په اصطلاح د روسانو د یرغل نه مخکې د مهاجرو ویستلو ته هم ټټر وډبولو او د تره کي سره خبرو کولو ته تیار شو خو د نړۍ والو فشار ببرته غلی کړ او خدایزده چې څه پېرل او پېرودل یې غوښتل.

د پاکستان علماو هم په ټولیز ډول د خپل حکومت مصلحت او ناروا

(c) ketabton.com: The Digital Library



پالیسي مخکې وړله هرې مذهبي ډلې یو یو رهبر تر وزر لاندې کړ شیدې یې پرې راپرېښودې او په سپین لباس او سوچه ږیرو یې په کچه کاڼو تول شروع کړ.

د مجاهدینو رهبران ډېر شول خولې او خبرې ډېرې شولې او اختلافات رامنځ ته شول د تنظیمونو ځینې قومندانان هم د پاکستان پوځ په مستقله توگه په لاس کې ونیول ، پالل یې او په شا یې ټپول تنظیم بازي او قومندان بازي هم پیل شوه او په همدې وخت کې د جهاد تر څنگ د افغانستان د قیمتي کاڼو د کانونو کیندل او شخصي کیدل هم پیل شول لاجوردو ، لالونو او زمردو پسې هم نړۍ وال سوداگر راغلل او ورو ورو یې د سیمې قومندانان خپل کړل او په شمالي ولایاتو کې خپل منځي اخ او ډب هم پیل شو.

د لومړي ځل دپاره د تنظیمونو په ځینو چاپي خپرونو کې د خپل منځي جگړو خبرونه هم راغلل عام افغانان او مهاجرین یې ډېر خواشیني کړل خو د افغانستان دښمنانو به بیا ورته دلایل لټول او افغان مهاجرینو ته به یې ذهنیت ورکولو چې هغه فلانی منافق دی او فساد یې خپره ولو او بلخوا بیا په همدې وخت کې ځینو قومندانانو ته د ښوونځیو ، پلونو ، بندونو ښارونو او نورو عام المنفعه ځایونو د ورانولو او سوځولو درسونه هم ذهنا ترزیق شول فتواگانې هم ورکړل شوې ، د افغان دولت ښوونکي ، عام مامورین ، ډاکټران ، انجنیران او ښاریان د کفر ، الحاد او کمونیزم تر بیرغ لاندې واجب قتل وبلل شول او پر هر ځای د توپونو ، راکټونو ، بمونو او ځمکني ماینونو ویشتل او ینښودل جایز او روا وگڼل شول دا ډاگیزه شوه چې کاڼی به پوست نه شي او دښمن به دوست نه شي مار په لستوڼي کې ځای ونیوه او ښه په ارامه یې خپل کار کولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وطن مین او هوښیار افغانان چې لکه صرافان د دښمن قلپې روپۍ یې پېژندلې او په شوم غرض یې پوهېدل هغوی دمخې ترور او وژل کېدل.

کیمپونه جوړ شول د پاکستان د حکومت له خوا د افغان کمیشنرۍ په نوم د افغانانو د ستونزو د حل په پار پاکستان ځانګړي دفترونه جوړ کړل او په کیمپونو کې ښوونځي او مدرسې جوړې شوې د ښوونځیو په تعلمي نصاب کې یو نوی مضمون د نظامي په نوم ورزیات شو او ځوانانو به هره ورځ په ملکي ښوونځیو او مدرسو کې نظامي او جنګي زده کړې هم کولې د حساب او لوست په کتابونو کې هم د قلم ، کاغذ ، رنګ ، انار او مڼې په ځای د تورې ، ټوپک ، وینې ، شهید ، مرمۍ او د کارتوسو نومونو ځای ونیوه ، د دیني علومو په ساعت کې هم د هجرت ، جهاد ، شهادت او شهید د وینو د اجر او ثواب کیسې او مسلې کېدلې او ځوانان به سنګر ته هڅه ول کېدل. چې په خندا مري نو ژړولو ته اړتیا نه پاتې کیږي په شهدو کې زهر ولړل شول د ښوونځیو پر دېوالونو ، سفري سرویسونو او ریکشو پر شاګانو به هم همدا ډول شعارونه او سپېڅلي احادیث لیکل شوي وو ، جهاد د قیامت تر ورځې دوام لري او موږ چې تر څو ژوندي یوو جهاد به کوو ، د کشمیر مظلومان به هم ازاده وو او د فلسطین خپلواکي هم خپل فرض ګڼو .

د افغانستان انقلاب د سیمې حالات هم لکه د یوه پلان شوي لیکل شوي فلم او ډرامې غوندې بدل کړل په ایران کې هم انقلاب وشو او د رضا شا پهلوي سلطنت مذهبي اخوندانو د روح الله خمیني په مشرۍ راړنګ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان حکومت لا له پخوا د ایران سره سیاسي ، حقوقي او کلتوري مشکلات درلودل ایران د هلمند په اوبو څو وارې اعتراضونه کړي وو او د دې اوبو ویش یې غوښتلو که څه هم دا سیاسي لانجه د پاچا په وخت کې د وخت تکړه او ځیرک لومړي وزیر محمد موسی شفیق په معقول ډول حل کړې وه خو بیا هم ایران ځان د اریایي لرغونو میراثونو وارث گڼلو او د همدې کبله یې تل د افغانانو په علمي او معتبرو کلتوري لرغونو اثارو ، کتابونو ، اشخاصو او تاریخ دعوې کولې او په پټه توگه یې په افغانستان کې توکمپالې او مذهبې راپارونې کولې نو د کمونستانو د ثور انقلاب د ایران بخت هم وځلاوه او په اوبو کې یې ډېوې بلې شوې.

د افغانانو نفاق ، رذالت او شیطانت ته یې ښکاره متې رابډوهلې او د پاکستان پر خلاف یې اته جهادي تنظیمونه رامنځ ته کړل د امدادی خمیني ، مهدي ، سپاه پاسداران او ... په نومونو یې نظامي غونډونه جوړ کړل او بیا یې روزل شوي خلک افغانستان ته راولیږل ډېر افغان ځوانان یې د جنت ، حورو او مذهبي جنون په څپو کې د عراق سره د ایران د ناروا جنگ قربانیان هم کړل.

اخوندانو په یوه لاس کې دوه هندوانې ونیولې هم د روس ملگرتیا او هم د تنظیمونو بنسټگر.

روسان هوښیاران وو اوولس هېوادونه یې نیولي وو د افغانستان گاونډ ته رارسیدلي وو خو په اویاوو کالو کې یې دا نیت نه وو چې افغانستان ته راشي ځکه چې د افغانانو تاریخ یې لوستی و او په دې پوهېدل چې دلته په نولسمه پېړۍ کې د دوي د سترگو په وړاندې انگریزان مات شوي وو ، مغلو تر هنده کابو درې سوه کاله بې غمه او ارام حکومت کړې و خو په افغانستان کې یې یوه شپه هم ارام نه و کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په کلمو کې يې د بې غمۍ اوبه نه وې تودې شوې که څه هم په وحشت يې د افغانانو له ککرو منارونه جوړ کړي و او د ژونديو انسانانو نه يې د ختهو کلاگانې جوړې کړې وي خو بيا هم افغانان ورته تسليم نه شول او مغل ترې وتښتېدل ، خو هوښياره مرغۍ که نښلي نو بيا په يو وار په ډېرو لومو کې نښلي ، روسان پرچميانو وهڅه ول او ورته يې له وريځو اوښان جوړ کړل چې ټول افغان ملت زموږ سره دې مخاليفين فقط د گوتو په شمېر دي ستاسو او زموږه د زوره نه دي او په يو څو مياشتو کې به وځپل شي د ډېرو امسا د يوه گېډۍ ده او بس روسانو ټول ملکونه بې ټکه او بې ټوکه نيولي وو د افغانستان گاونډي هېوادونه يې په يوه ورځ کې خپل کړي وو ، پر تاجکستان يې گهيځ وختي بريد کړی و او په څو شېبو کې يې ونيوه ، تاجکانو ويل روسان سهار وختي راغلل او موږ لا د سهار چايونه ، نه وو چښلي نو همدا لامل و چې هر يوه به ويل چاى ناخورده جنگ نه ميشود يعنې ټول وطن يې د چايو قرباني کړ جنگ تريخ دی خو کيسې يې خوږې دي.

د روسې هوښيار ولسمشر برژنيف پرچميانو او کارمل به ذات خود دومره خر کړ چې د هغه د درواغو په خبرو لکه غر غوښه او سيند ښوروا ، نو بس راځه ، تېروتل او د سرېښتو ډنډ ته راپرېوتل.

د کمونستهانو د ظلم ، نيونو او وژنو نه عام ولس تنگ او هر سړي غوښتل چې ددغه محشر نه خپل سر په سيوري کړي ځکه هم ځمکه جنگ لکه د اور تبۍ سره کړې وه او هم له پورته روسي چورلکو دراندە دراندە د نيپال بمونه راورول د هرات ښار يې پر سرو وينو سور کړ او د کونړ په کيراله کې يې په سلگونو خلک په يوه ورځ ژوندي د خاورو لاندې کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځمکه هغه سوځي چې اور پرې بل وي نو ولس اړوت چې د ډیورنډ له کرښې واوړي او ښکته پښتونستان او پاکستان ته سر اوباسي.
له ډیورنډ ښکته د افغان مهاجرینو په نومونو یو شمېر کیمپونه هم جوړ شوي وو او خیمې په کې لګېدلې وي ، که څه هم جنرال ضیاءالحق افغانان خپل وروڼه او مهاجر بلل خو د پښتنو ستر مشر د عدم تشدد باني د نوبل د سولې نړۍ والې جایزې ته کاندید او د ګاندي هم مهاله او سیال سیاستوال خان عبدالغفار خان بیا دا جنګ د روس او امریکا جنګ بللو او ویل به یې جنګ اصلا د دوو لویو قدرتونو دی خو له بده مرغه د سیالۍ او زور ازمایۍ میدان یې افغانستان دی سرونه ، کورنه او وینه زموږ تویږي او ورانیږي غرونه به موږ سوري کوو او مزې به نور خلک پرې کوي.
افغانان یې خپل وروڼه بلل او پښتونخوا یې د دوی خپل پلارنی هېواد بللو دوی یې په خپل کور کې میلمانه بلل او یوازې هغه افغانان یې مسافر او مهاجر بلل چې له اټکه ښکته اوسېدل.
پاچا خان به ویل دا پردی جنګ به ټول افغانان او په ځانګړي توګه پښتانه بې کوره او بې اوره کړي ، هره مور به بورجنډه کړي ، هره خور به بې وروره کړي ، هره میرمن به کونډه او سرتوره کړي او هر بچی به بې پلاره کړي دا جنګ به اخر خپل اصلي رنګ را اوباسي او افغانستان به په ډلو او ټپلو وویشي ، دا جنګ به د هر افغان او هر پښتون کور او دروازې ته راورسیږي او د افغان وینه او سر به بیا د یوه چرګ د وینې او سر هومره ارزښت هم ونه لري.
یو به د بل د وژلو فتوې ورکوي او مرګ به یې جایز ګڼي پاچا خان به دا هم ویل چې روسان به مات شي خو بیا به امریکا یکه تازه شي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅوک به یې نه شي رامهر کولای د نړۍ وال قدرت انډول به خراب شي او امریکا به هر څه په خپله خوښه او اختیار کوي او....
د باچا خان ویناوې لکه ملغلرې بیا وروسته شاعرانو سره وپیېلې نغمې شوې ، ترانې او سندرې شوې:

په خپل وطن کې جنگ را په سر دی
هلته هم زه مرم دلته هم زه مرم
پردی غوبل دی پردی اشر دی
هلته هم زه مرم دلته هم زه مرم
زما گرېوان یې ریښې ریښې کړ
زما وجود یې اندام اندام کړ
پردی ټوپک دی پردی سنگر دی
هلته هم زه مرم دلته هم زه مرم
کوڅه کوڅه مې د زړه په وینو
روزانه لامبي زه ورته گورم
ما په ما وژني کافر هنر دی
هلته هم زه مرم دلته هم زه مرم
ای نړیوالو امن دوستو
د جنگ پرستو مټ د نیوو دی
په ما قیامت دی په ما محشر دی
هلته هم زه مرم دلته هم زه مرم

څه سر به مو خوړه وم دا مهال دوه لوی کیمپونه په پېښور کې جوړ شوي وو یو د کچه کړۍ په دښته کې ( اوسنی حیات اباد ) او بل د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناصر باغ په وچ ډاک کې د خيمو تر منځ يو نيم د خامو ختهو گټهو جومات هم جوړ شوي و د سوري پل لاندې يو نيم دوکان هم جوړ شوی و او ښوونځي او مدرسې هم جوړې شوې وې.

په کچه گړۍ کې هم د تابوتونو او ترکاڼانو دوکانونه جوړ شوي وو هره ورځ به په سلگونو تابوتونه خرڅېدل او د جهاد شهيدان به په کې خښېدل د تابوتونو د دوکانونو سره څنگ په څنگ د جهادي او جنگي ترانو د کيسټونو دوکانه هم ښه په خوند کې روان وو او د جگړو ، شهادت او ازادۍ ترانو ښه بازار موندلی و ، خو د وطن، خاورې ، ليلا، گل ، بلبل ، گودر ، لونگو او عشقي شعرونو ځای فقط د تودو سنگرنو ، غزا او جهادي ترانو نيولی و او:

ای زما وطنه د لالونو خزانې زما
ستا هره دره کې دي د تورو نښانې زما
زه يم ستا له خاورې ته زما له مينې جوړه يې
ته مې د غيرت او د پښتو رنگينې جوړه يې
ته مې د نيکه او د بابا له مينې جوړه يې
ستا زړه کې پرتې دي ټولې تللې زمانې زما
سترگې مې لوگې شه ستا د خاورو د کورونه
عقل مې ايرې شه ستا دپاره د فکرونونه
ځار شمه قربان شم ستا د غرونو نه سيندونونه
ستا هر دره کې دي د تورې نښانې زما
ستا عزت چې نه وي زه به نوم او عزت څه کړمه
ته چې خوار او ځار يې زه به خوب او راحت څه کړمه
ستا سر چې وي ټيټ نو زه به شان او شوکت څه کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسته به دې خاوره کړم په مينې مستانې زما
يا به دې زه سيال کړمه وطنه د جهان
يا به ستا په پښو کړمه تورې خاورې ځان
زه به دړې وړې شم خو تا به کړم ودان
زه هغه پښتون يم تا ته يادې افسانې زما
اى زما وطنه د لالاونو خزانې زما
يا
وطن جنت نشان دی ګلان په کې کرمه
په ما د ځانه ګران دی ګلان په کې کرمه

د خلکو د ذهن نه وتلي وو او حتي د ملي شاعر ملنګ جان شخصيت هم حالاتو د پوښتنې لاندې راوستی و چې محکوم پښتونستان او محکومو پښتنو ته يې نغمې ويلي وې او باالاخره يې خپل ژوند په همدغه لاره کې قربان کړ چې البته د پښتونستان د دښمنانو له خوا يې د سوارلۍ موټر د کابل جلال اباد په لار کې چپه کړای شو او ډريور چې خپل کور يې لا پخوا ويستی و خپل سر يې هم ژوندی ، روغ او جوړ لاهور ته وويست خو د ځينو معلوماتو له مخې هغه هم بيا په لاهور کې ناپېژاندو کسانو سمدواره ووژلو او ښايي لامل يې هم همدا و چې د ملنګ جان د وژلو کيسه رسوا نه کړي او د داود خان د غضب سبب ونه ګرځي خو په هر حال د افغانستان دښمنان پخپل پلان کې بريالي شول او هغه بلبل يې د تل دپاره چپ کړ چې ويل به يې:

زه پښتون يم زما روح پښتونستان دی
بې له روحه څوک ژوندون نه شي کولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما خوښ د ازاد ی نام ونښان دی
اسارت زما ارواح نه دی منلی
زه پښتون یم پښتونواله مې خوښېږي
سرو مال د پښتونوالې نه خیرات دی
که مې سرې وینې په دغه لار تویېږي
زما وینې د وطن د سر زکات دی
هغه سر چې قومیت کې خاورې کېږي
خاورې نه دی تر قیامت پورې حیات دی
پتنګ کله د ډیوې نه روی ګردان دی
په ډېر فخر سره یې خپل بدن سېزلی
زما تن کې که هډوکي دي که غوښې
دغه واړه د وطن آب و دانه ده
د وطن نه به یې قربان کړم ګوښې ګوښې
هر اندام مې ددې لارې نذرانه ده
ما کې شته د پښتونوالې پوره نښې
خدای راکړې د همت ښه خزانه ده
ابی کړی راته غوږ کې دا بیان دی
که بې ننګ وي پی مې نه دي وربښلي
په کوم ځای کې چې پښتون وي لوبېدلی
که اول وي که اخر د پښتون مال دی
که سل ځله وي په وینو لمبېدلی
خو بیا هم پښتون ګټلی استقلال دی
اکثریه خلکو پخپله ځان سېزلی
چې پښتون ورته ښودلی توره ډال دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتنو ته رب ورکړی کلک ایمان دی
له مېدانه چېرته نه دی تښتېدلی
زه پښتون د پښتون زویٔ پښتونزاده یم
ټول جهان زه پېژندلی چې پښتون یم
زه ددې خاورې د غېږې پرورده یم
دغه خاوره مې لیلا زه یې مجنون یم
قربانۍ لره حاضر او اماده یم
زه مین د خپلواکۍ په ښه قانون یم
نو زما ملنګ جان دا عهد و پیمان دی
ما خپل ځان پښتونستان ته وربښلی .

په عامه اصطلاح د هجرتونو لړۍ همداسې ګرندۍ روانې وې او افغانان درګرده له هېواده وتل ځوک ایران ، ځوک اروپا او امریکا ته تلل او ځینې غریب او غوربه خلک بیا ایله دومره وو چې د ډیورنډ له کرښې ښکته پوریوتل.
عبدالمحمد جان کاکا چې هغه وخت ښه خط او بریت زلمی و او د سرو روسیانو ظلمونو اړ ویست چې په وړاندې یې ټوپک راواخلي او عملي جهاد پیل کړي خو چې پام یې شو خپل دوه بې موره ماشومان یې نېغ سترګو ته ودرېدل بیرته یې سمدستي د ټوپک راخیستو او غر ته د ختلو سوچ پرېښود او د کلي او وطن نه د وتلو په فکر کې کېوت ټوله شپه یې ښه فکر وکړ په سبا یې په خپل کور لاس تېر کړ د غریبۍ کور و خاص قیمتي او د خرڅ څه په کې نه و ټول عادي او د دهقانۍ سامان و خو بیا هم د کلونو کلونو کور او مال و پرېښودلو یې ډېر زور غوښتلو ځکه کور ته کوره کی او واده ته واده ګی نه ویل کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر حال کې خامخا درروند وي ، له ويرې يې چا ته د زړه حال هم نه شو ويلای ځکه حالات ډېر ترينګلي و او د خلقي حکومت د ظلم نه هر سړی په ويره کې و هيچا په هيچا باور نه شو کولای حتی سکه ورونه له يوه بله وېرېدل او د زړه خبرې زړونو کې امانت پرتې وي ، حکومت مخبران درلودل او ډېر خلک په خپلو خبرو نيول شوي وژل شوي او نادرکه شوي وو هر څوک له خپل سيوري وېرېده او خلکو به ويل چې نن سبا دېوالونه هم خبرې کوي.

هر چا په خپلې خولې لاس ايښی و لکه شيخ فريده پټه خوله دې بهتري ده ګنډلې شونډې ګرځېدل.

عبدالمحمد جان کاکا چې کليوالو په عامه لهجه ماجان بللو د همدې وچ کوټ د کلي مومند و او د کوټ ولسوالي يې خپله ولسوالي وه. تېر کال يې ميرمن مړه شوې وه او همدا دوه نښې ترې پاتې وې زوی ته به يې له نازه کشو او لور ته شرو ويله.

د ژمي لنډه ، تنګه او يخه ورځ وه ماجا ماشومان خپلې سپين سرې مور ته وسپارل او پخپله هديرې ته ولاړ د مېرمنې قبر ته کېناست ګرد چاپير به يې خپل ښکلي وطن ته ليدل او ژړل به يې غوړونه يې هم شک نيولي و چې به د چا د خبرو يا د راتلو ښکالو شوه ژر به يې سترګې پاکې کړې او ځان به يې غلی کړ چې لارويان يې ونه ويني او د زړه په خفګان يې پو نه شي ټوله ورځ يې خپلې ځوانيمرګې مېرمنې ، پلار ، نيکونو او هديرې ته دعاوې وکړې.

مياشت مخکې کلی روسي څرخکو لوټې لوټې کړی و او د ماجا خپلوان او ډېر کليوال شهيدان شوي وو پر قبرونو يې لا شنه ګيا وچه شوې نه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماجا قبرونو ته کتل او هر یو یې سترګو ته نېغ ودرېده لمر په پرېوتو و د غر لمن لکه د شهیدانو هدیره تکه سره وه ماجا هر یو مخاطب کړ او په زړه کې یې ورسره پټه خدای پاماني وکړه بیا یې خپل نیکه مخاطب کړ او ویل یې تاسو خو انګریزان مات کړل خو دا ځل مونږ له خپلې لمن اور اخیستی دی اوس د بلې لوې بلا په خوله کې پرېوتلو او ددې بلا ماتول ډېر ګران دي ځکه چې بیرغ یې زما د ورونو په لاس کې هم دی او دوی ورسره مله دي بیا یې ټولو ته دعا وکړه پوزه او اوښکې یې پاکې کړې لوند دستمال یې جب ته کړ او له هدیرې په سلګیو سلګیو مخ په کور ولاړ خواشینی و خو ناهیلی نه و ویل یې دلته د ډېرو زورورو ښکرونه مات او د ظلم بېړۍ یې ډوبې شوي دي د دوی غاښونه به هم مات شي ، چیرته د خدای زور او چیرته د مخلوق زور ، که غر لوړ دې خو پر سر یې لار شته ، روس به څه وي او زور به یې څه وي کلمه یې تېره کړه او کړل یې سل زامن د سپي او یو د زمري.
بس همدا روانه اونۍ لا تېره شوې نه وه چې ماجان دشپې په تیاره کې په دوو خرونو او کچرې باندې د تن جامې بار کړې او غلی د شینوارو په لورې وخوځېد د تورو غرونو او سپینو واورو مسافر شو لاره د مرګ د خطر سره تړلې وه ځای په ځای ماینونه ، امنیتي پوستې او د روسانو د ځرخکو ګزمې یو په بل پسې روانې وې ، ماجا خپل مشر زوی کشو پر خره ، سپین سرې مور یې پر کچرې او شرو یې په شا کړه کله به چې کوم یو وټوخل یا به یې څه ویل غوښتل نو ماجا به ژر ورته پر خولې لاس کېښود او خبره او ټوخی به یې په کې وچ کړ د خپلو پښو تناکې او زخمونه یې د هیبت او ویرې د لاسه لا ښځي لیدلي هم نه وو ، ماجا د همدې سیمې سړی و نو ځکه د مړي ژوندي له کبله په سیمه کې بلد و که څه هم پر دغو کړنګونو کله نه وو تللی خو د اټکل له مخې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېده چې ښنګه باید له ډیورنډ کرښې ها غاړې ورواوړي بله دا چې خره او کچرې هم تر ډېره د نورو پلونو اندازه لګولای شي او خپله هم لاره سمولای شي بس دلته هم کچره مخکې او دوی ورپسې وو.

د شپو شپو مزله وروسته له کرښې واوښتل او په پوښتنه پوښتنه د ناصر باغ کیمپ ته ورسېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما جان د ناصر باغ په پنډغالي کې د خیمې او ورو ورو د کورګي خاوند شو ځینې خلک د افغان کمیشنرۍ له خوا په دفتر کې ثبت او راجستر شوي وو او د کور د شمېر په کجه به ورسره هره میاشت د وړو ، غوړو ، مالګې او تیلو مرستې کېدلې او د رسمي راشن کارډ له مخې به ورکول کېدل ما جان لا په دغو کیسو نه پوهېده سترګې یې مړې وې او غوښتل یې چې د خپلو متو له برکته یوه حلاله مړۍ پیدا کړي او لکه د انګورو تاک پر بل بار نه شي.

پېښور داسې یو ښار و چې د پاچا او ګدا دواړو بېړۍ په کې خدای پورې ایستله او هیڅوک وږی نه پاتې کېدلو.

د ما جان د پښو ټپونه لا نه وو سره ورغلي چې د روزګار په لټه کې شو وخت و او لکه برېښنا ځغلېده څه وخت وروسته کشو هم لږ را زلموټی شو او کله نا کله به یې د خپل پلار سره کار ته ملا تړله د خیمې ژوند یې هم د ختو ، ګټو په یوه خام کورګي بدل شو او خور یې شرو د کیمپ ښوونځي ته تلله ، ماشومه شرو ایله دریم ټولګي ته رسېدلې وه لیکل او لوستل یې هم لا سم نه شول کولای چې له ښوونځي وویستل شوه ، ما جان بل واده کړی و او دا وخت شرو په کور کې وړې خویندې او میره مور هم درلوده که څه هم د شرو میره مهربانه میرمن وه خو بیا هم وایي مور چې میره شي نو پلار هم پلندر شي د کور کارونه ډېر شول او شرو د کور میرمن شوه ، په افغانانو کې او بیا په ځانګړې توګه پښتنو کې لا تردې وخته د نارینوو تعلیم هم د صفر سره ضربېده یعنې عصري زده کړې د هیواد په کچه بېخي هیڅ وې ښوونځي او سینماګانې د خلکو له خوا سوځول کېدلې او د ښځو ښوونځي خو بیخي کفر ګڼل کېدل او د ډېر پخوا نه سوځول کېدل ان د غازي امان الله خان واکمني هم د همدوغو مشکلاتو ښکار شوه او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په اصلاحاتو د کفر ټاپه ولگېده او د واکمنۍ تخته يې د سقاو د زوی په مشرۍ يوه ډله غلو واړوله.
عامو خلکو يوازې د ښځو ښوونځي بد نه بلکې د خپلو لوڼو او خويندو تعليم يې هم بد گڼلو او د شرم او پېغور کار ورته ښکارېده.
هر چا به په عامه اصطلاح ويل ښځه يا په کور ده يا په گور ، که څه هم پښتانه ټول مطلق مسلمانان دي او په اسلام کې تعليم او زده کړې ته لومړی مقام ورکړل شوی دی او د پيغمبر عليه السلام د مبارکو وينا و له مخې زده کړه په نر او ښځه لازم او ضروري گڼل شوې ده پښتانه په دين سر او ځان قربانوي خو دې مهم اصل ته يې شا کړې ده او د ښځو په زده کړه لا تر اوسه اکثره شرميږي.
عجبه يې دا ده چې د کور ، کروندې ، اوبو ، خاشاکو او څمکو کار پرې کوي ، په لکونو لکونو ولور او دنيا پرې اخلي ، ورور او پلار يې د خپل وادہ او ناوې په بدل کې ورکوي ، د جرگو ، بديو ، تربگنيو او دښمنيو په ټس کې يې د مقتول کورنې ته په ډولۍ کې کېنوي خو په زده کړې يې شرميږي.
خير شرو دا وخت د وطن د دود له مخې ديارلس کلنه او پېغلوټې شوې وه ، په اصطلاح دلته تر لسو کلونو پورته جلۍ پېغله بلل کيږي ، ريباران پرې مرکې جرگې کوي او خپلو زامنو ته يې غواړي شرو هم د کلتور له مخې دا وخت بايد د يو يا دوه بچيو مور واى.
د ښوونځي همدا وروستۍ شپې وې چې يوه ورځ نابېره يوه ډله سړي د ښوونځي له يوې گوډې شوې ښځينه ښوونکې سره د ښوونځي انگړ ته راننوتل شرو او نورې جونې هم په غولي کې ولاړې وې د رخصتۍ زنگ ټنگېدلی و شرو هم لا سور لمر ته ولاړه وه ښوونکې له ترجمان سره په پښتو خبرې کولې او ترجمان په انگليسي اخته وو ، د يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریشي کړي کس په غاړه کې کیمره ځړېدلې وه او ګوډې ښوونکې سره یې په اشارو خبرې کولې د ښوونځي تصویرونه یې اخیستل او د کیمرې شړاکا یې ختله ، بیا یې لاس پر تندي ونیوه او د بل لاس په ګوته یې هغه وړاندې جنکیو ته اشاره وکړه ښوونکې پو شوه او هغه جونې یې عکاس ته راوبللې خو ټولې رانغللې ښایي ځینې به له پردیو سړیو شرمېدلې ، ځینې به ویرېدلې او ځینو به نه غوښتل.
د پښتنو کلتور لږ سخت دی پردی نارینه حق نه لري چې د بل چا تور سرو ته اشاره وکړي او پښتنې جونې هم نه غواړي چې له یوه پردي سړي سره خبرې وکړي ، واړه ماشومان د کیمرې واله پسې وو او پرې راټول وو خو دوی لرې ولاړې وي او ښایي فکر به یې کولو چې دا پردی سړی او دا انګریز څنګه راغلی دی که څه هم دا وخت افغانستان او افغانان د نړۍ د مطبوعاتو د سر ټکي وو او ډېر ژورنالسټان به کیمپونو ته راتلل خو خلک ساده وو او په هر څه ژر نه پوهېدل د ګوډې ښوونکې له اشارې سره جونې ولاړې خو شرو لا ولاړه وه چې کمیره مین ورنږدې شو ، ښوونکې ورته وویل دا یو خبریال دی امریکا نه راغلی دی زموږ د ښوونځي عکسونه اخلي او بیا زموږ سره مرسته کوي ، شرو هیڅ ونه ویل او په ټټه خوله یې د خپل څادر پیڅکی خولې کې نیولی و عکاس خپله کیمره له غاړې راوویسته او د شرو عکسونه یې واخیستل ورځ وه او تېره شوه شرو کور ته ولاړه پر ټوله لاره پرېشانه او تروره ښکارېدله لکه څه یې چې ورک کړي وي یوه وېره او ترهه یې په زړه ننوتې وه ښایي له دې ورېدله چې د عکس نه ورته کوم جینجال او کیسه جوړه نه شي څوک ورته پیغور ورنه کړي او د کورنۍ عزت یې خراب نه شي پلار او خپل ورور یې ټوله شپه سترګو سترګو ته کېدل او تر سبا یې سترګې پټې نه کړې که څه هم په زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې به ورتېر شول چې تصویر یې د ښوونکې په خوښه او د خلکو په مخکې عکاس واخیست خو بیا هم پښتنې میرمنې له تور او تهمته وېرېږي او وايي ترڅو چې رښتیا راځي نو درواغو به کلي وران کړي وي ، اکثره خلک په رښتیا هم خپل غوږ ته لومړی نه گوري که ورته وویل شي چې غوږ دې سپي یوړ نو سمدلاسه په سپي پسې ځغلي ډېر خلک د بې ځایه ننگ او غیرت قربانیان شوي دي او احساساتو یې کورونه وران کړي دي همداسې ډېرې پېښې او کیسې شرو لیدلې او اورېدلې وې نو ځکه یې ماشوم ذهن ناارامه و او د سوداگانو سیند لاهو کړې وه خو د وخت په تېرېدو سره یې ورو ورو د عکس کیسه او صحنه له ذهنه بېخي ووتله.

وخت په منډه روان و شرو نو اوس د پلار هغه ماشومه شرو نه بلکې پېغله شوې وه او د کور په څلورو دېوالونو کې را ایساره وه ، ټوله ورځ د کور ، خویندو ، پلار او ورور په خدمت بوخته وه ، د سهار د لمونځ پسې سمدستي د انگړ جارو ، د سهار چای او د لوښو مینځل یې لومړني کارونه وو ، بیا به یې وړه وه اخکښل او د غرمې په پخلي به بوخته شوه د تندي خولې به یې لا وچې شوې نه وي چې د خیرنو کالیو پنډ او سوباړی به یې راواخسیت او د کالو په پرېولو او د سوباړي په غربولو به اخته شوه ، په همدې شپو ورځو کې ورپسې د ریبارانو جرگې او مرکې هم پیل شوې ډېر خلک به تلل راتلل او خپلو زامنو ته به یې غوښتله ، ښکلې سره سپینه او پټه خوله جلۍ وه نو ځکه له گونډیانو واخله تر خپلو خپلوانو د هر زلمي مور ورپسې وه ، په افغاني ټولنه کې د جلۍ یا په اصطلاح د خور او لور د ورکړې ټول واک او اختیار د پلار او ورونو په لاس کې وي او هر څه چې د پلار یا ورور خوښه وي هماغه به کیږي که یې ړوند ته ورکوي که یې شل ته ورکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



که يې زوړ سړي ته ورکوي او که يې په بدل او بنې ورکوي او که يې سيند ته غورځوي بس جلۍ د څه ويلو اختيار نه لري که څه هم د وطن قانون او اسلامي شريعت پوره حق ورکړی دی چې خپل نظر څرګند کړي او خپله رايه ښکاره ووايي خو د کلتور او دود له مخې جنکۍ د پلار او رورو په وړاندې هيڅ نه وايي او په پټو سترګو د زهرو ګوټ کوي مګر دا هم دود ده چې ځينې پلارونه بيا د خپلو زامنو نه هم پوښتنه نه کوي او په خپل سر او خپله خوښه ورته په کور کلي کې جنۍ او د ژوند رشته ګوري.

ښځه يوازې په افغاني ټولنه کې بې وزله او مظلومه نه ده بلکې د نړۍ په هر ګوټ کې مظلومه ده او په ځينو پرمختللو هېوادونو کې يې هم انساني حقوق او کرامت تر پښو لاندې کيږي د يو موټي روپيو په مقابل کې يې جسم ، اندامونه او ښکلا په تجارتي اعلانونو او جنسي فلمونو کې ليلاميږي.

کله به چې کور ته نابلدې ښځې راغلې او له ورايه به مسکۍ شولې نو شرو به هم د دوی په مطلبي راتګ پوهه شوله د چايو پتنوس به يې کېښود پيالې به يې ډکې کړې او نوره به په منډه له کوټې ووتله ، څو څو وارې جرګې راغلې او ولاړې خو بله ورځ يوه بله مور راغله د شرو ميرې ته يې د خپل زوی ډېر صفتونه وکړل بس هر چا ته خپل مزی مرغلين وي ويل يې زه بيا هم راځم ، بيا هم راځم او بيا هم ، په خندا يې وويل اوس مو نو چيرې په اسانۍ پرېږدم که په پښو مې ووهئ نو په سر راځم او که په سر مې ووهئ نو په پښو راځم همداسې يې وکړل تر هغې لاړه او راغله چې د شرو مور يې دې ته راضي کړه چې خبره خپل خاوند ما جان ته ورسوي ما جان ته هم د سپين ږيرو جرګه کېناستله او د خپلوۍ غوښتنه يې ترې کوله باالاخره خبره دې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راورسید ده چې ما جان جرګې ته هو وکړي خو کله کله انسان نه پوهيږي او په ځانګړي توګه افغانان بيا داسې معاملې تر ډېره په قسمت او نصيب پورې تړي او وايي که نصيب يې و نو وبه شي ماجان هم جرګې ته همداسې وويل او لږ مهلت يې وغوښت سپين ږيري هيله من شول او د بيا راتګ په نيت سره خواره شول.

بس په رښتيا هم د قسمت خبره وه څو ورځې لا نه وې اوښتې چې بل ماښام مرزا محمد راغللو ، ميزرا خان تر هجرت وړاندې ماجان نه پېژندلو همدلته په کيمپ سره نږدې اوسېدل او بلد شوي وو ، ماجان د ناصرباغ په بازار سوري پل کې مېوه خرڅه وله او ميرزا خان به کله کله څنګ ته ورتلو او د لمر پيتاوي ته به يې د افغانستان په روانو سياسي حالاتو خپل بحثونه او د زړه خوالې کولې او ورو ورو سره ښه خواږه ملګري او اشنايان شول مړی او ژوندی يې سره پاللو او کله کله به يې ميرمنې هم سره د يو او بل کور ته تللې.

د پيتاوي مجلس به کله کله ډېر خوږ شو او په خپلو کمونستهو کليوالو به يې ټوکې کولې مرزا خان ويل زموږ کلي کې هغه فلاني په سپينه ږيره خدای ووهلو او مليشه شو د خلقيتوب په مانا نه پوهيږي خپل لمونځ او اودس هم کوي او د کمونستهانو ټوپک يې هم پر اوږه ينښی دی.

خير ډوډی موډی چې وخوړل شوه مرزا خپل اشنا او ملګري ماجان ته د خپل زړه خبره په خوله وکړه مرزا خان بيا ماجان ته مخ کړ او ويې ويل ما د خپل زوی دپاره ستا په کور لاس ايښی دی او غواړم چې دا دوستي په خپلوی بدله کړم.

ماجان لا جواب نه و ورکړی چې هغه وويل بس چيرته چې زړه ځي نو هلته پښې هم ځي زه هم نن ستا کور ته زړه راوستی يم او ناهيلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوې به مې نه په مسکا يې وويل گوره همدلته اړوم او تش لاس نه ځم نوره دې خوښه چې خوړه راکوې او کنه خو ، ښه مېړونه په ښه نوم يادېږي په ما هم ته گران يې او هم دې کورنۍ.

غټ غټ او ماړه خلک هم دلته شته خو زه هم ستا په شان غريب سړی يم او د خپلې بړستنې سره پښې غځول غواړم .

په يوه سا يې کابو يو کتاب خوږې خوږې خبرې وکړې ماجان فکرونو لاهو کړی و هغه تېره جرگه او تېر خلک يې سترگو ته نېغ ودرېدل او په خپلو تېرو ټولو کړو خبرو يې ژور فکر کاوه ، ښايي انديښنه به يې وه چې کوم جينجال ورته جوړ نه شي پښتني ټولنه کې چې يو ځل سړی هو وکړي او سر وښوروي بيا نه ، نه شي کولای په ځانگړي توگه د لور او خور په ورکړه کې ځکه چې بيا ترې بدۍ او دښمنيانې جوړيږي او کلونه کلونه په کې وينې تويږي پښتانه وايي که په زنځير وتړل شې نو بېرته به ايله شې خو که په ژبه او پښتو وتړل شوې بيا دې ايله کېدل نه شته ، که څه هم پښتو هم د لکه د نړۍ د نورو ژبو په شان يوه ژبه ده خو يوازې ژبه هم نه ده پښتو لکه يو قانون او يو تړون ته ورته ده چې ښوک تر خپلې ژبې ( ژمنې ) بيا نه شي تېرېدلای يو ځانگړي قانون او مذهب ته ورته ځانگړتياوې لري او تر ژبې تېرېدل بې ننگي وي ، خو خير اخر يې چپتيا ماته کړه او خپل اشنا ته يې وويل ستا کور ودان چې زه درته سيال ښکاره شوم او په دروند نظر دې راوليدل خو د خدای بنده زما او ستا کور چا سره ويشلی دی زما اولاد خو ستا خپل اولاد دی او اختيار يې هم ستا دی که سيند ته يې غورځوې هم واک يې ستا دی او بيا يې په مسکا وويل دا ځل چې ته مطلبي راغلی يې نو هر قدم دې زما په ليمو او ترڅو چې دلته اوسېږې نو اوسېږه بانه په سترگو نه درنيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانه اکثره د خپل کور او کورنۍ نه بېرون د پردیو خلکو سره خپښۍ او خپلوۍ ته په اسانه زړه نه ښه کوي او همدا لامل دی چې ان خپله گونډه هم په خپله نکاح کوي او پردیو ته یې نه پرېږدي.
خبره د ماجا وه بیا کور ته ولاړ ټوله شپه په خپل ځای کې نېغ ناست و او د شرو ځوانیمرگه مور یې سترگو ته نېغه ولاړه وه د هغې ټولې خبرې یې بیا رایادې شوې کلونه کلونه وروسته یې مړه شوې مېرمن بېرته را ژوندۍ شوه سترگو او ذهن ته یې ودرېده او خبرې یې ورسره پیل کړې هغه د ژوند وروستۍ ورځ یې یاده شوه چې د زنکدن په سلگیو کې یې ویل ما مې بچي په خدای او بیا په تا سپارلي دي پام کوه چې درنه خوار نه شي ، زما په ځای د مور مینه هم ته ورکړه او د بې مورۍ د سوځنده لمر نه یې سر په سیوري ساته کنه اروا به مې درنه خفه او ناراضه وي.
همدا ذهني او خیالي مکالمه یې د شرو د مور سره کوله سوچونو په سر اخیستی و اسویلي یې ویستل او ویل یې لور غریبه په خپل کور کې هم پردۍ وي او په خپل کور کې د بل چا امانت وي کاش خور او لور په کور کې د ساتلو وای خو افسوس چې نه دي بس سل زړونه یې خپل کړل او د شرو د ورکړې پرېکړه یې وکړه په رښتیا چې وایي سل یې غواړي او یو یې وړي بس د شرو نصیب هم د خپل پلار د اشنا د نالیدلي او نا کتلي زوی رحمت گل سره وتړل شو.
د مړي او ژوندي خبر بېخي ژر خپرېږي د شرو د کوژدې خبر هم د سترگو په رپ کې ډنډوره شو شرو هم خبره شوه لاسونه او پښې یې وریږدېدلې کوټې ته ولاړه کټ کې پرېوته او ځان یې بړستنو کې پټ کړ.
پښتنې پېغلې اکثره لکه د شرو په څېر د خپلې کوژدې او ورکړې زیری

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا غرِ ناڅاپي اوري بیا د حیا او یا د غم له امله ځي او ځان دوه درې ورځې د خپلې کورنۍ د غړو له سترگو پنا کوي او که کومه پېغله خبره وي او رضایت یې ښودلی وي نو بیا یې میندې او خویندې په ټوکو ټنگوي او ورته وايي:

پېغلوټې غرِ د کوژدې واورېد
په سترگو ژاړي زړه کې گوړې ماتوینه

شرو د برېستنو لاندې ژړل او په سوچونو کې یې د رحمت گل خیالي انځورونه جوړه ول ډېر سوچونه یې وکړل خو رحمت گل یې خیال ته رانغلو د ماشومتوب او د ښوونځي ټول وختونه یې له ذهنه تېر کړل خو بیا یې هم رحمت گل په کې راپیدا نه کړ فقط د رحمت گل صفتونه یې د هغې د خپلې مور له خولې اوریدلي وو چې ددې میرې ته به یې کله کله کول او د شرو تر غوږ به یې رسول.
خیر چاره نه وه له څو ورځو وروسته له کوټې سرتړلې راووته ، سترگې یې سرې او سترغلي یې پړسېدلي وو.
د سترگو رپ کې کلونه تېر شول شرو د رحمت گل میرمن او د لورگانو مور شوه ، د خوار برخه په هند کې هم خواره وي شرو د پلار د غریب کور نه د مرزا غریب د کور میرمن شوه ، رحمت گل د خپل مشر ورور شمشاد سره نوکر و او د پېښور ښار د صدر په نوتیه کې یې د ډوډۍ پخولو تنور و رحمت گل تکړه او د کار سړی و خو د غریبۍ دې رنگ ورک شي د گل په شان انسان بدرنگ کړي هو دوی غریبان وو خو د عزت او وقار خاوندان و د رحمت گل پلار به هر وخت په ویاړ د خپل جهاد کیسې کولې او په ویاړ به یې ویل چې روسان د دنیا ستر طاقت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی خو په موږ يې زور ونه رسيد دا ځکه چې د زمري کور بې هډوکو نه وي دلته لا د پخوانيو يرغلگرو ککرۍ پرتې دي .
مرزا خان د سپين غر په لمن کې يعنې تورې بوږې ته ځېرمه زېږېدلی و او دا هغه ځای و چې روسانو د خپل ټول طاقت سره سره ونه شول کولای چې د يوې شېبې دپاره يې له مجاهدينو ونيسي.
دلته لوړ غر او ژورې ځمځې وې د ځايي مجاهدينو تر څنگ دلته د اسلامي نړۍ نور مجاهدين هم مېشت وو د عربو مجاهدينو او د القاعده تنظيم مشر عرب مليونر اسامه بن لادن هم همدلته مېشت و چې تر روسانو وروسته بيا د امريکايانو د زور ازمايلو ځای هم شو او درانده درانده بمونه يې پرې وويشتل .
لکه څنگه چې مخکې هم يادونه وشوه اسامه بېخي ځوان دوه ويشت کلن و چې د خپل شاهي دولت نه د قدس او د فلسطينيانو د مظلوميت او ننگې په سر مرور او بيا د سعودي د شاهي نظام مخالف شو همدا مرورتوب او مخالفت يې ورو ورو په يو ډول کرکې او عقدې بدله شوه او هماغه و چې خپل هېواد يې پرېښود ، تر افغانستان دمخه په سوډان کې و او همدا وخت و چې نيروبي او دار السلام کې په امريکايي تاسيساتو د بريدونو تور ورپورې شو نوم يې تور شو خو د همدې تور نوم سره له سوډان لکه د بېديا مرغه افغانستان ته راورسېده او دلته رباني ، احمدشا مسعود او نورو رهبرانو او قومندانانو ورته هر کلی ووايه ځکه چې ډېر شتمن و لکه لنگه غوا هر چا لوشلو او خپلې کاسې يې ترې ډکولې د اسامه دپاره هم طلايي چانس و د بخت ستوری يې وځلېد او د افغانستان په جهاد کې لا د لوی نوم او شهرت خاوند شو او په ټوله نړۍ کې يې خواخوږي وموندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیه خبره د رحمت گل وه نو هغه به هم کله نا کله د خپل پلار کیسې خلکو ته کولې او په همدې غرور به یې بریتې تاوه ولې.

رحمت گل اوس هاغسې لکه د گوتې غمی نه و ځواني یې رنځورۍ خوړلې وه د رحمت گل رنگ ورځ تر بلې خرابېده او د رحمت سره سم د شرو رنگ هم تگ ژېړ او زبېښلی و خپل رنځور خاوند ته ځورېدله ، د رحمت ورور شمشاد خپل رنځور ورور ډېر وگرځولو خپل موټرسایکل یې هم د هغه د سر خیرات کړ د درملنې دپاره یې خرڅ کړ او د ورور علاج یې وکړ همدا د پرېشانې ورځې وې او دوی ورسره لاس او گریوان وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس بنده حیران خدای مهربان په خړپړ کورګي کې ورکه او پټه شرو دا وخت د نړۍ پر مخ لکه روښانه لمر او د څوارلسمې سپوږمۍ ځلېدله د ټولې نړۍ خلکو یې دمظلومیت او ښکلا نه ډک تصویر ته کتلي وو په لکونو انسانانو ددغې مهاجرې ښاپیرۍ په حال اوښکې تویې کړې وې خو شرو لا د دنیا له حاله نه وه خبره او نه یې دا په خوا او خاطر کې ګرځېدل چې ددې هغه ساده باده تصویر دې لا چا لیدلای هومره هم وي.

لکه مخکې مې چې هم یاده کړه د کارمل پرلپسې تېروتنو سیاسي شدت او زور زیاتي د مجاهدینو صفونه نور هم قوي کړل او هر سړی یې د ټوپک او کوتک راخیستلو ته اړ کړ ښوونځي او زده کوونکي هم په سیاسي مارشونو او جلوسونو بوخت شول او د زده کړې کچه ورځ تر بلې خرابه شوه ځوانان شاګردان د ځوانانو سازمان ته په زور جلبېدل او ماشومان د پیش اهنګانو په نوم د ماشومانو سازمان ته بلل کېدل او بیا به ورته د سازمانونو د استادانو له خوا سیاسي درسونه او د موسیقۍ زده کړې ورکول کېدلې په زرګونو یتیمان ماشومان یې د پرورشګا په نوم روسي ته درګرده لیږل او هلته به یې د نورو زده کړو تر څنګ د کمونیزم او سوسیالیزم فلسفي او د لینین افکار لوستل همدې وخت کې جبري عسکري هم رامنځ ته شوه د دولسم ټولګي هلکان به د فراغت په وروستۍ ورځ نیول کېدل او عسکرۍ ته به سوق کېدل بیا به د جنګ لومړیو کرښو ته لېږل کېدل او په دې ډول پوهنتونونه ورو ورو تش شول مسلکي زده کړې هم پیکه شوې ، د حربي زده کړو ارزښت او حیثیت هم را ټیټ شو او د څو کلونو په ځای فقط یو څو اوونیو او یو څو کورسونو ته خبره راغله د مسلکي پولیسو او صاحبمنصبانو په ځای غیرې مسلکي او ماشیني تولید ډېر شو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشيني صاحبمنصب او ماشيني ضابط اصطلاح په عام ډول په همدې وخت کې رامنځ ته شوه د عسکرۍ لومړۍ د مکلفيت دوره هم دوه کاله شوه او بيا دويمه جبري دوره هم رامنځ ته شوه چې زوړ او ځوان يې نه ليده او هر سړی به نيول کېده او نېغ به د جنګ کرښې ته لېږل کېده.

همدې کارونو د کارمل د حکومت پاېه هم ژېړه کړه او پښې يې سستې شوې بل خوا روسانو ته هم د کارمل اصليت څرګند شوی و او پوهېدل چې کارمل دوی تېرويستي دي په لېټۍ يې اخته کړي او په حقيقت کې يې د ټولو سياسي تېروتنو او ضعف لامل ګڼلو.

د تېرو ناکامو تجربو په نتجه کې روسانو دا غوره ګڼله چې نوموړی له واکه لرې کړي او په ځای يې کوم بل داسې کس چې مسکو ته د باور وړ وي نصب کړي همدا و چې ډاکټر نجيب الله رامنځ ته شو او د ملک جمهور ريس شو نجيب له دې مخکې د کمونيسټ ګوند يو پخوانی او شعوري غړی و تر جمهوري رياست مخکې د خاد ( خدامات امنيت دولتي ) ريس و او د خاد ارګان روسانو ته تر هر څه مهم ځکه و چې د استخباراتي معلوماتو مرکز و او همدې ارګان د روسانو او کمونسټانو په زرګونو مخاليفين نيولي ، وژلي او ژوندي جاړ ورک کړي وو.

خو بيا هم ډاکټر نجيب الله هوښيار و او د ډېرو تجربو سره قدرت ته راغلو هغه تېروتنې او ظلمونه چې تر دې دمه مخکې شو وو او نتيجه يې د نورې بدبختۍ سبب ګرځېدلې وه هغه نجيب تکرار نه کړل بلکې حقيقت يې درک کړ په شيدو سوی و نو ځکه يې مستو ته هم پوکی کولو همدا لامل و چې نجيب پو شو چې دوی ګومره بې شمېره تېروتنې کړي دي نو د همدغو تېروتنو د جبيرې او رغونې په پار يې په اساسي قانون کې بدلون را منځ ته کړ ، سياسي فضا يې يو څه له

(c) ketabton.com: The Digital Library



انحصاره وویسته او نسبتا ډیموکراسي یې رامنځ ته کړه هغه شعارونه چې به پخوا د جنګیالیو به وړاندې ورکول کېدل بند او بدل شول اشرار ( مجاهدین ) مرور او غولېدلي ورونه وبلل شول ، د ملي روغې جوړې تګلاره جوړه شوه ، ټول مخالیفین د خبرو میز ته راوبلل شول، پخواني پاچا محمد ظاهر شا ته د منځګړتوب غړ وشو د ځینو معدله تنظیمونو ( پیر او حضرت ) سره هم پټې او ښکاره اړیکې ونیول شوې په نړۍ واله کچه د ژنیو تړون لاسلیک شو چې له مخې یې روسانو ته د وړو پوزه ورجوړه او د وتلو لار یې هواره شوه او ووتل.

د خلق دیموکرات ګوند د وطن ګوند په نوم بدل شو ډېر نور بدلونونه او نرم چلند رامنځ ته شو د وطن غږ په نوم د کابل راډیو مهاجرو ته ځانګړې خپرونې پیل کړې ، جرګې او مرکې پیل شوې او ډاکټر نجیب هم خپله وینا په بسم الله او د قران کریم په ایاتونو پیل کړې خو بس له بده مرغه وخت تېر و او دوی د کفر ټاپه خوړلې وه ګونډیانو تک سره کافر کړي وو هر څه قراني ایاتونه یې چې وویل اوبه له ورخه تېرې وې او د دوی تېر وخت یې جبیره نه کړای شو پر تندي یې داغ پاتې شو د ژنیو مذاکراتو ته تنظیمونه پرېښودل شول او د سولې بهیر ګونډیانو سبوتاژ کړ ځکه چې د تنظیمونو صورت خپل و خو واک یې د بل و.

نجیب چې د تنظیمونو پردیپالي او خپل منځي جنګونه لیدل نو په وار وار یې ویل چې تاسو ټول یو اتفاق شئ او یو کس ( مشر ) رامخکې کړئ چې زه ورته قدرت وسپارم او کنه نو زما په تګ سره به ستاسو خپلې وینې تویې شي او لکه لړمان به پخپله یو بل وخورئ کابل به تاسو پخپله پخپلو وینو ومینځئ ، تنظیم جنګي ، قوم جنګي او مذهب جنګي به پیل شي او کورنی جنګ به هر څه تبا کړي نجیب دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه ویل چې تر دې دمخه د تنظیمونو ټولو مشرانو په بیت الله شریف کې قسم کړی و چې نور به سره متفق یوو او نفاق به نه کوو خو د بیت الله شریف نه تر راګرځېدو سمدواره بیا خپل منځي جنګونه پیل شول او مسلمانان اندېښمن شول.

د وطن غږ راډیو به ټولو مهاجرینو ښه په مینه اورېدله او د وطن خوږو نغمو ته به یې اوښکې تویولې:

دا زموږ زیبا وطن دا زموږ لیلا وطن
دا وطن مو ځان دی دا افغانستان
دا وطن دی ځان زموږ دا وطن ایمان زموږ
وایي په خاپوړو کې داسې ماشومان زموږ
دا مو د بابا وطن دا مو د دادا وطن
په موږ باندې ډېر ګران دی دا افغانستان
ځار یې د سیندونو شم ځار یې له ډاګونو شم
ځار یې د خوړونو شم ځار یې د دې غرونو شم
دا زموږ اشنا وطن درمل او شفا وطن
زړګی مې پرې روښان دی دا افغانستان

د وطن غږ راډیو غږ ډېر خوږ او رسا و، ورو ورو یې په مهاجرو اغیز ډېر شو نو په همدې وخت کې د اسلام اباد چارواکو هم د وطن غږ راډیو اغیز په مهاجرو کې څرګند ولید او اړ وتل چې په پېښور راډیو کې د تنظیمونو سیاسي مبصرینو ته هم وخت ورکړي او هر ماښام د افغان حکومت په وړاندې تبلیغات وکړي او په دې ډول د مهاجرو پام او وخت د تنظیمونو مقررینو ته راواړه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنظیمونو ته د نجیب پاڼه هم ژیړه ښکارېده او ویل یې چې دا هر څه له وېرې وایي دا کلمې ، ایاتونه او موعظې له وېرې او منافقته کوي کنه نجیب خو شعوري ملحد و او کلونه کلونه یې د اسلامي شعایرو خلاف مبارزه کړې ده.

په ټولیز ډول د هجرت په فضا کې د مولانا مودودي او علامه اقبال لاهوري مفکورې او فرمودې د ټولو په ذهنیت کې ورځای شوې وې د بېلګې په توګه یو شعار دا هم و چې:

هر ملک ملک ما است

که ملک خدای ما است

ځینو رهبرانو به هم کله نا کله په خپلو ویناګانو کې ویل چې په اسلام کې برید او سرحد نشته.

لنډه دا چې اسلام اباد هم د نجیب پرځول غوښتل او هم یې نه غوښتل په دې معنی چې نجیب یې نه شو زغملای خو پرځولو یې هم ځکه نه چې د جنګ ختمول یې نه غوښتل او د بیزو پرهر یې ترې جوړولو.

یو ناکام پلان خو دا هم و چې افغانستان وویشي په همدې هیله یې یوه جنګي طرحه جوړه کړه او تنظیمونه یې وهڅه ول چې د جلال اباد تاریخي ښار ونیسي او د تنظیمونو د سیاسي اړیکو او خبرو اترو یو مرکزي ځای شي په یو دولت او یو هېواد کې بل دولت او بل هېواد جوړ کړي یو بام او دوه هواوې او د جنګ په اوږدېدو ورو ورو یو ملک په دوه برخو وویشي یعنې د تنظیمونو اسلامي افغانستان او د نجیب کمونستي افغانستان او په عینې حال کې د هغه خوب تعبیر هم لږ لږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



رښتیا کړي چې ویل به یې افغانستان زموږ پنځمه صوبه ده گیدړ تر لمر ختلو پورې ښه خوشاله وي خو د جلال اباد ناکامه خونړي جنگ ډېر ناهیلي کړل او ټول خیالات یې لکه پر اوبو نقشې گډ وډ شول ، په زرگونو عسکر ، جنگیالي او د جلال اباد عام ښاریان د ړندو راکټونو قرباني شول ، د جلال اباد ښار چې د انار په شان له خلکو ډک و تش شو یوازې سپي او پیشوگانې به په کوڅو کې لیدل کېدلې حتی مرغان هم د میزایلو ، توپونو او راکټونو له وېرې له ښاره وتي وو.

بس هره خوا افغانان لکه پسونه قرباني شول ډاکټر نجیب په خپله جلال اباد او د جنگ لومړۍ کرښې ته راغلو د جنگ د اعلی سرقومندان په توگه ثمرخیلو ، سرخ دېوال او کان او کترغي ته هم راغلو هر عسکر یې په شا وټپولو او ورته یې وویل ته ددې وطن قهرمان یې چې سر بایلی او وطن ساتې زه هم وایم چې یا وطن یا کفن ، بیا یې عسکرو ته وویل تاسو پوهېږئ چې تاسو د اټومي طاقت سره په جگړه کې یاست مخامخ مو خپل ورور دښمن رامخکې کړی دی او شا ته یې د نظامي خریطې والا ټول پردي جنرالان دي همدا و چې په سنگرونو کې عسکرو نه زمریان جوړ شول او د پاکستان ښکاره یرغل یې په شا وتمبولو.

تر دې مخکې پاکستانیانو د نجیب په ضد ډېر منفي تبلیغات کړي و او ویل به یې چې د روسانو تر وتلو وروسته نجیب یوه ورځ هم حکومت نه شي کولای مگر د جلال اباد جنگ او د نجیب بریا نړۍ هم حیرانه کړه لکه څنگه چې مې مخکې وویل د جلال اباد خونړي جنگ نجیب او د هغوی دولت ته هم روحیه ورکړه مورال یې بېخي غښتلی شو سر ورکوو سنگر نه ورکوو شعار یې رښتینی شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو بیا هم دښمن ارام کښېنه ناست او په داخل کې یې شرارت پیل کړ د دفاع وزیر شا نواز تڼی یې په تنظیمونو خپل کړ او د نجیب په وړاندې یې کودتاه وکړه هغه هم ناکامه شوه او خلقي شا نواز هم شمشتو ته پنا یوړه خو د وخت په تېرېدو د ځینو نورو اختلافاتو له مخې ځینو ملگرو یې د داخل نه د نجیب حکومت کواکه کړ او باالاخره یې پښې وښوېدې د ثور اومې ته د پای ټکی کېښودل شو او له څوارلسو کالو وروسته په اتم د ثور کابل ته له هر لوري جنگي ډلې وردننه شوې د ارگ په نیول مسابقې او د قدرت جنگ پیل شو ، که څه هم تر دې دمخه په اسلام اباد کې او د اسلام اباد د حکومت له خوا نتظیمونو ته د عبوري او د موقت دولت تشکیل جوړ شوی و او هر څه یې په تنظیمونو ویشلي وو خو بیا هم په ونډو او غنیمتونو سره وران وو او یو بل یې نه شو سره زغملای اور بل او درز غوبل پیل شو.
د ډاکټر نجیب الله وړاندوینې او ټولې ویناوې ورو ورو رښتیا شوې.
د پاکستان د لومړي وزیر نواز شریف او بینظیر بوټو ټولې هیلې پوره شوې ملي اردو دړې وړې شوه افغانان بې پته او بې کوره شول ټولې موډرنې او پرمختللې اسلحې پاکستان ته یوړل شوې ، ټانگونه اره شول ، جنگي الوتکې او څرخکې کباړ او پاکستان ته یوړل شوې ، موزیمونه او پخواني تاریخي اثار لوټ شول ټول بیت المال چور او غنیمت شو ، قومي او مذهبي جنگ هم زور واخیست تاریخي حیثیت او اسلامي ارزښتونه خاورې شول او ان تر دې خبره را ورسېده چې د ازهر استادانو به د خدای د وحدانیت په مثال کې ویل که چیرې خدای سره شریک وای نو هره ورځ به د دنیا په نظام کې داسې بد حال وای لکه په کابل کې چې د تنظیمي رهبرانو تر منځ دی.
ملک میدان شو او چور چپاول پیل شو هر چا به د څوارلس کاله جهاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعوې کولې او هر څه يې چې زړه غوښتل هغه يې کول د کابل خلکو چې د تنظيمونو جنگياليو ته کتل نو ويل به يې چې پنچ بنای مسلماني امروز در کابل عبارت است از پکول ، ريش ، چادرک درگردن ، کلاشينکوف و چهارده سال جهاد ، بس په دغه بڼه خلکو هر څه کولای شول ، کمونستانو په وحشتونو کې انتها کړې وه خو ددې ټولو بې انتها وحشتونو سره سره يې د چا ناموس ته لاس نه وو وروړی خو د رباني په دوره کې رباني ډېرو عامو خلکو ته په عريضو وليکل چې

قومندان صيب فلاني!
منکوحه عارض را به عارض تسليم دهيد.

او پېغلې ناهيد خو د خپل عزت د ژغورلو په خاطر ان ځان له څلورم چت نه راگوزار کړ او شهيده شوه همدارنگه په لويو او وړو لارو کې قومندانانو پاټکونه ( زنځيرونه ) واچول د ټرانسپورټ او حق العبور په نوم عام خلک او مسافر چور شول د کابل جلال اباد پر لويه لاره هم بې شماره زنځيرونه واچول شول او حتې د زرداد پاټک خو نړۍ وال نوم هم خپل کړ ، زر داد يو قومندان و او د يو انسان نه يې سپی جوړ کړی و په سروبي کې يې زنځير اچولی و خلک او مسافر يې داسې ويرولي وو چې له سروبي به په شش کلمو او دعاگانو تېرېدل.
د همدغه جناياتو په هکله په خپله يو سپين گويه رهبر د خپل زړه درد داسې بيان کړی و:

شيطان ترېنه جوړېږي چې انسان شي کوڅه ډب
ياران شي ترې بېزاره چې ياران شي کوڅه ډب

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن دلته سبا هلته کله سم شي کله کوږ شي
سم جوړ شي منافق چې مسلمان شي کوڅه ډب
نوکر د استعمار شي خپل ملت په نورو پلوري
د کوم هېواد چې پوه ملي ځوانان شي کوڅه ډب
وبا شي قام کې گډه د ژوندون بېړۍ چپه شي
د چا چې ملايان او واعظان شي کوڅه ډب
وطن ساتلی نه شي په چوکۍ چې کړي جنگونه
گيدړې ترېنه ښه دي چې زمريان شي کوڅه ډب
د هرې کوڅې سپی شي د هر چا ډول ته به ناڅي
ځان پلوري په پيسو چې ماموران شي کوڅه ډب
پرون يې د خلقيانو نن زموږ به مداحي کړي
چې کله شرمېدلي شاعران شي کوڅه ډب
وجدان ترې گډه واخلي لياقت يې رزالت شي
کم سيالو نه کم سيال شي چې سيالان شي کوڅه دپ
خالصه خير دې غواړه چې شپې ورځې دې ترخيږي
که غله شي مجاهد او رهبران شي کوڅه ډب.

بس هغه څه وشول چې زموږ په پنځه زره کلن تاريخ کې مخکې نه و شوي همدغو خبرو ولس تنگ کړ او د دوی د ظلم په پايله کې بل نوی سياسي بدلون د طالب په نوم راغی طالبان چې اکثره ځوانان او د اسلامي مدرسو شاگردان وو د شريعت ، عدالت او امنيت شعار يې پورته کړ او ورسره جوخت دا تبليغ هم روان و چې طالبان د پخواني پاچا محمد ظاهر شا لښکر دی او قدرت بېرته پخواني پاچا ته سپاري ، پخوانی پاچا چې دا وخت په روم کې اوسېده او هميشه به د سختې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدې ورځې په وخت کې د هغه نوم لاندې باندې کېده او د ولس د هیلو اخرنی شخصیت و چې تر دې دمه یې لاسونه پاک او د چا پر وینو سره نه و بدې ورځې راخیستي ولس هر وخت غوښتلو خو تنظیمونه یې ډېر سخت مخالف وو او ان ځینو مشرانو به یې ویل چې ظاهر شا به په دوه حالاتو کې بېرته راستنېږي یا به موږ نه یوو مړه شوي به یوو او یا به زموږ عقیدې خرابې شوې وي.

اخر هم داسې وخت راغلو چې حامد کرزي سپین ږیری محمد ظاهر شا بېرته وطن ته راوست بیا پخوانۍ خبرې نورې وي هغه سترګې بدلې شوې وې ټولو ورته میلمستیاګانې وکړې او ښه یې ونازولو. په هر حال د طالبانو غورځنګ هم د محمد ظاهر شا د نوم او شخصیت نه ښه پوره ګټه واخیسته او تورې شپې راخیستی ملت یو ځل بیا د سیاسي تبلیغاتو قرباني او ښکار شو.

د طالبانو اسلامي غورځنګ لومړی د افغانستان پخوانۍ پلازمینه او تاریخي ښار قندهار له تنظیمي قومندانانو ونیوه او هلته یې ښه پوره امن او امنیت راوست او ورو ورو یې نور ولایتونه ونیول او تر کابل ورورسېدل دا داسې وخت و چې طالبانو په خپلو سیمو کې بیخي امن راوستې و عام ولس د ظلم ، چور ، تالان او بې امنۍ نه تنګ و اوبو اخیستی وایي زګ ته هم لاس اچوي نو ځکه یې طالبانو ته ښه راغلاست وایه او د امن په ارمان وو په همدې وخت کې د تنظیمونو ځینې هغه قومندانان چې په کورنیو جګړو کې نه و جنګیدلي هغوی هم د دوی سره یو ځای شوي وو او لښکر یې پیاوړی شوی و. که څه هم د طالبانو د اسلامي امارت غړیو او چارواکو دا تحریک خود جوشه ملي غورځنګ بللو او ویل یې چې موږ پخپله د ظلم په وړاندې پاڅون وکړ خو اسپ چې شړېږي د موږي په زور او د غشي پسې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیندی زور وي ددې خبرو شاته نورې خبرې هم وې شینی په پټه نه خوړل کیږي. هیچا فکر نه کاوه چې داسې یو منظم تحریک او خوځښت دې په داسې حساسو شرایطو کې پخپله رامنځ ته شي او بیا دې دومره قوي شي چې د روس سره جنګېدلي تجربه شوي او تغذیه شوي قومندانان او رهبران دې داسې په اسانه لکه د شنو نصوارو ګپه کړي ددې تحریک بنسټګر هم د اسلام اباد د کورنیو چارو وزیر او په ختّه پښتون هماغه سړی یعنې نصرالله بابر بلل کېده چې د داود خان په وړاندې یې د تنظیمونو ځینې قومندانان او رهبران د پېښور په بالاحصار کې میلمانه کړي وو قصاب په رښتیا چې هیڅ اشنا نه لري .

په ښکاره ډول دا خبرې هسې د خلکو په سترګو کې د خاورو اچول و خو ددې تحریک د ظهور او جوړېدو ډېر نور لاملونه هم و لکه تنظیمونه کورني جنګ مفسدین کړل ټول کورنی او نړی وال باور یې بایلود د نړی د مسلمانانو د کرکې وړ وګرځېدل او اسلام اباد ورسره بوخت رسوا او بد نام شو هغه رهبران او قومندانان چې ارتجاعي خواص یې درلودل د ایران ، روسې ، اروپایانو او هند سره نږدې شول لکه د وریجو مې هرې خوا ته ورغړېدل د اسلام اباد اغیز پرې لږ شو او داسې نور ډېر لوی لوی لاملونه نو ځکه یې د وهلو دپاره دا نوی تحریک راپیدا شو.

د تحریک غړي هرې خوا ته د سپینې جنډې او د خدای کتاب په لاس ولاړل د کورني جنګ نه ستړي شوي ولس ورسره بلې جګړې ته زړه ښه نه کړ او هغه قومندانان چې د پاکستان د استخباراتو مشر جنرال حمید ګل به ویل چې دوی زما نه هم ډېر او کلک پاکستانیان دي هغوی یې ملاتړ وکړ او له پکتیا یې تر ننګرهار ، لوګر او د کابل تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروازو ورسول او ان ارگ ته ننوتل او د کابل د عامو خلکو په اصطلاح د برهان الدين رباني د شر او فساد د سلطنت ټغر ټول شو.
په همدې لومړۍ ورځ يې د ملگرو ملتونو د دفتر نه پخوانی ولسمشر ډاکټر نجيب راوويست او ويشتل شوی جسد يې ورته د ورور سره يو ځای د اريانا په چوک کې راوځړولو ، ټولو وزارتونو او ولايتونو ته ملايان او قاريان سرپرستان وټاکل شول د ښځو او جونو ښوونځي وتړل شول او د هلکانو ښوونځي او پوهنتونونه هم کم رنگه شول ، د کابل او ولاياتو راډيوگانې د شريعت غږ په نوم ونومول شوې ، موسيقي بنده شوه نعتونه ، زمزمې او ترانې پيل شوې ټلويزيون هم بند شو او د ټولو ارگانونو ښځينه مامورينې د تنخوا سره په کور کېنول شوې .
د شريعت نفاذ او د اسامه بن لادن خبرې پلمه شوې او امريکا په نړۍ واله کچه په افغانستان اقتصادي او سياسي بنديزونه ولگول که څه هم د طالبانو د راتگ او واک نه دمخه ټوله نړۍ د افغانستان له اپينو او د يروينو له عذابه تنگه وه او د ملگرو ملتونو له لارې په لکونو ډالر د کوکنارو د کر د مخنيوي په خاطر افغانستان ته راتلل خو د کوکنارو کر نور هم پسې ډېر او دود شوی و د طالبانو د تحريک اميرالمومنين ملا محمد عمر فقط يو فرمان صادر کړ د کوکنارو کر يې حرام او بند اعلان کړ د همدې فرمان سره د کوکنارو کر چورلټ بند شو او اپين لکه د مرغۍ پۍ هسې يو خيال شو خو نړۍ وال بنديز لا هماغسې پاتې و اسامه بن لادن او د ښځو حقوق د هر خبر سره جوخت جوخت يادېدل.
د قتلونو او غلاگانو گراف هم صفر شو ، له لويو او وړو لارو يومخ زنځيرونه او پاټکونه ورک شول او مسافرو دشپې او د ورځې پرته له کومې وېرې او ترهې له نغدو افغانيو او اسعارو سره تگ راتگ کولو خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا هم له اسلام اباد او متحده اماراتو پرته بل هیچا دا اسلامي امارت په رسمیت ونه پېژنده ، برهان الدین رباني د تاجکستان په کولاب کې ناست و او د ارگ اجرات یې کول ځان یې د افغانستان رسمي سلطان او ریس جمهور گڼلو او د روسانو رسمي ملاتړ ورسره و.
په همدې وخت کې افغان ولس غوښتل چې روسانو نه د برید او تېري په بدل کې جنگي غرامات او تاوان وغواړي نړۍ وال فشار پرې واچوي او تاوان ته یې اړ کړي حتی د اسلامي حزب مشر مولوي محمد یونس خالص خو دا هم وویل چې موږ به د روسانو نه د حفیظ الله امین د وژلو پوښتنه هم کوو خو بس کورنیو جگړو او د برهان الدین رباني دریځ غرامات په غنیمت بدل کړل روسانو ورته بې خړته جعلي افغانۍ چاپ او په کانټېنرونو کې یې رالېږلې .
تر دې چې د امریکا په تاسیساتو ناځرگند بریدونه وشول امریکا القاعده او اسامه چې لا له پخوا د ټیکۍ سر و تورن کړ او په افغانستان د برید په ټلواله کې ناټو هم ورغاړې وته د شمالي ټلوالې ټول تښتېدلي رهبران او قومندانان بیرته په شا وټپول شول او د پنټاگون په زور کابل ته راوستل شول لکه څنگه چې مخکې هم یادونه وشوه حامد کرزی ارگ کې کېښنول شو او د طالبانو اسلامي امارت په مقاومت د خرپ او ترپ په جگړو اخته شو او اوسپنه په اوسپنې ماته شوه.
طالبانو د خلکو په شخصي ژوند کې د مداخلو په شخصي سلیقو کې د تجاوز او په ملي او تاریخي مسایلو کې د بې غورۍ له مخې خلک ډېر تنگ کړي او ناراضه کړي وو ، د بامیانو د بتانو ماتول او په شمالي کې د شنو باغونو سوځول ډېرې لوې تېروتنې وې چې ولس یې حیران

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ناراضه کړی و نو ځکه د امریکا د بریدونو په وخت کې یې ولس ننګه ونه کړه او له میدانه غرونو ته شول.

دوه زرم کال و او همدا شپې ورځې بیا هم افغانستان د نړۍ د خپرنو د سر ټکی و خو د هغه پخوانیو شپو ورځو په څېر د خوشالۍ او خوښۍ خبرونه نه وو لکه مخکې چې وویل شول تنظیمونه بریالي شوي وو کابل او ټول وطن یې نیولی و کمونیزم زوال شوی و خو دوی د شکر پر ځای د نعمت کفران کړی و او د خپل منځي جنګ د لاسه یې بیرته هر څه بایللي وو د قدرت سره سره یې تاریخي ویاړ او د اتلولۍ نوم هم بایللی او پیکه کړی و کابل یې پر وینو مینځلی و او بالاخره د دوی د نفاق له امله د قدرت غوړه مړۍ د طالبانو اسلامي تحریک ته رسېدلې وه همدا وخت نړۍ والو د افغانستان سره خپلې ټولې اړیکې شکولې وې او د پخوا په شان مرستې او خواخوږي هیچا نه درلودله او بلکې د پخوا پر پرتله د مهاجرې جلۍ وطن چورلټ د نړۍ په تور لیسټ کې پروت و.

کار پوره او هندو غره شوی و په همدې ترینګلي وخت کې هماغه عکاس چې پخوا د ناصرباغ کیمپ ته راغلی و یو ځل بیا له نیویارکه پېښور ته راغلو د سیمې مشهور او مشر ژورنالسټ رحیم الله یې د ځان سره مل کړ او د مهاجرې جلۍ په لټه کې بېرته په هماغه پخوانیو پلونو ور روان شول ، عکاس فکر کاوه چې اوس به هم ناصر باغ هماغه شان وي او په اسانه به خپل هدف ته ورسیږي او هغه مهاجره جلۍ به بیا راپیدا کړي او دا ځل به پرې دا زیری وکړي چې ته اوس یوازې د ناصر باغ ښاپیرۍ نه یې بلکې ټوله نړۍ دې زما د هنر او کیمرې له برکته پیژني او سترګې دې د هر چا کور ته رسېدلې دي په همدې هیله یې هغه ګوډه ښوونکې هم راپیدا کړه او بیخې ډاډه شو چې اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



به نو ډېر ژر يو ځل بيا له کلونو کلونو وروسته هماغه څوک راپيدا کړي چې هغه وخت يې ترې په ساده ګۍ او ډېرې اسانۍ سره عکس اخيستی و دا وخت هم هغه غريبه له هيڅ نه وه خبره داسې نه وه ګوندې چې هغه د دنيا د نورو مشهورو او پېژندل شويو خلکو غوندې د خپل شهرت په غرور مسته وه ، ځان يې د اينځر ګل کړی و او خپل شهرت يې په خلکو خرڅه ولو بلکې ناخبره او خپل خوار ژوند خزان کړې وه .

عکاس د يوې نړۍ والې خپرونې سره کار کاوه او دا وخت نو بېخي ډېر خوشاله و ځان ورته د نړۍ نيکمرغه انسان ښکارېده يو خو يې خپل انساني مسووليت ادا کړی و او د يوه مظلوم قام د مظلوميت تصوير يې د نړۍ سترګو ته ښودلی و او بل د خپل کار او تصوير په بريا وياړمن و څومره شهرت او مينه وال چې د مهاجرې جلۍ مظلوم تصوير په نړۍ کې پيدا کړي وو په هماغه کچه ورسره د عکاس نوم هم يادېده او من من غوښه يې اخيسته خير عکاس د همدې خوښۍ په سبب دا دی بيا تر ناصرباغ راورسېد هغه پخواني ځايونه يې ټول ګز او ګام کړل پر لاره ، کوڅو ، بازار او د سلماني په دوکانونو کې يې ډېرو خلکو ته د خپلې مجلې پر پوښ د شين سترګې مهاجرې جلۍ چاپ شوی انځور وښود خو هيڅ درک يې ونه لګېد .

د ګوډې ښوونکې او رحيم الله په ملګرتيا يې د يوه او بل په خوله او خبرو د ډېرو خلکو دروازې وډبولې او رحيم الله عکاس ډېرو خلکو ته معرفي کړ چې دا سړی ستيف ميکوري دی د نشنل جوګرافي چينل تکړه فوټوګرافر دی او دې جلۍ پسې ګرځي خو ځمکه وچاوده او جلۍ په کې غيب شوه د ستيف ميکوري خوشالي ولاړه او ناهيلي راغله ستونی يې وچ شو ، چا به ويل هغو بل ځای ته تللي دي چا به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل هغوی وطن ته تللي دي او په کلي کې مېشت دي او چا ورته دا هم وویل چې د هغه خاوند د تورې بوږې و او هلته تللي دي ، میکوري حیران شو فکرونو واخیست ځکه هغه پوهېده چې توره بوږه څه ډول ځای دی او په دې هم پوهېده چې ددې په شان یو خارجی نن سبا هلته په هیڅ صورت نه شي ورتللای خو بیا یې هم په زړه کې کرل او ربېل او ویل یې که خبره دقیقه او کره شي ښايي د مسلک لیونۍ مینه یې د عقل زنځیرونه او بندونه مات کړي او د مرگ او درد په قبلولو سره ان تر تورې بوږې هم ولاړ شي په هر حال ناهیلی شو او پر تندي یې د پرېشانۍ او غم وریځې خورې شوې که څه هم د یو څو شین سترگو جونو میندو د عکس په لیدلو وویل چې هو دا جلۍ زما لور ده خو په پای کې به جوته شوه چې دا جلۍ هغه نه وه په کومې ورکې پسې چې دوی گرځي.

یو چا لا دا هم وویل چې هغه د اولاد د زېږون په وخت مړه شوه او اوس په دې دنیا کې نشته ستېیف ببخي ډېر پریشانه شو ټولې هیلې او خبرې یې په سیند لاهو شولې ان هدیرو ته ولاړ او د ډېرو قبرونو شناختې یې ولیدې زړه یې ډېر درد وکړ په هدیره کې سترې ستومانه کېښناست او د سوچونو په دریاب لاهو شو.

د ستېیف کار ډېر گران او ستونزمن و خو د سترِیا احساس یې نه کولو همدلته په هدیره کې ناست و د لمر پر لور یې ولیدل د لمر پلوشې څه عجیبې غوندې وې د ټولې پرېشانۍ او تیارې سره یې د یوې خوښۍ او رڼا زیری ورکاوه د ستېیف پر زړه او ذهن کې به بیا بیا د خلکو ټولې ښې او بدې خبرې گرځېدلې په هدیره کې ناست وو گردچاپېره یې مړي او قبرونه وو خو بیا یې هم زړه ته نه پرېوتل چې گوندې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهاجره جلۍ دې مړه شوي وي کومه چې دې اولس کاله مخکې ماشومه لیدلې وه او اوس د نړۍ ملکه ده.
خیر په همدې امید او نا امیده شپو ورځو کې د یوې بلې شین سترگې جلۍ مور چې تصویر ولید نو په ډاډ سره یې گوډې ښوونکې او میکوري ته وویل چې دا خو زما لور ده اوس واده شوې ده او هغه وخت په همدې ښوونځي کې وه.
د میکوري ایله لاړې تېرې شوې د تندي خولې یې وچې کړې او بې براته پرې اختر شو.
د ښوونکې تندی هم له خوښۍ وغوړېده او پوښتنه یې ترې وکړه چې:

ستا لور اوس چیرې اوسیږي؟
هغې سپین سرې مور ځواب ورکړ چې همدلته ده
چیرې؟ همدلته په کیمپ کې
سپین سرې وویل نه ، همدلته مطلب په همدې پېښور کې
ښوونکې بیا ترې په بیړه پوښتنه وکړه ایا موږ یې لیدلای شو؟
سپین سرې مور وویل هو ولې نه بس ټول موټر ته وختل او د سپین سرې د لور د کور پر لور روان شول پر لاره ترې میکوري وپوښتل چې ستا د لور نوم څه شي دی ؟
سپین سرې ادې وویل زما لور عالم بي بي نومیږي.
میکوري پوښتنه وکړه چې عالم بي بي څه مانا ؟
ترجمان ورته وویل عالم بي بي یعنې د ټول جهان ملکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستېيف ميکوري نور هم خوشاله شو او په جامو کې نه ځايده سمدواره يې وويل بس په رښتيا هم چې د جهان ملکه ده بې شکه او زړه ته ورپرېوتل چې بس همدا زما ورکه وه چې راپيدا شوه.

د عالم بي بي مور هم خوشاله وه او په وچه ځمکه يې شين فصل ليده نيستۍ ځپلې سپين سرې تورې ويل بخت يا په کمڅۍ دی يا په کوټۍ ، بس که خدای کول دا خلک به مې د لور سره مرسته وکړي او ژوند به يې ښه شي ، گوړه گوړه يې کوله او خولې يې اوبه راپرېښودلې دا يې هم په زړه کې تېر شول چې برخې ټولې ازلي دي نه په زور نه په سيالي دي په همدې وخت کې د لور کور ته ورسېدل لور ، زوم او ټول يې خبر کړل هغوی هم حيران شول چې دا څه خبره او څه کيسه روانه ده خو سپين سرې خپلې لور ته وويل : هغه ته چې وړه وې او په مکتب کې ستا عکسونه يو خارجي اخيستي و هغه سړی اوس بيا راغلی او ستا عکس يې راوړی دی.

عالم بي بي لکه بې سا بوت داسې غلې او حيرانه شوه خاوند يې بېرون ووت او مېلمنو ترې پوښتنې پيل کړې ترجمان ورته وويل ته څه نوميږې ؟

د عالم بي بي خاوند ځواب ورکړ زه بختور شا نوميږم ترجمان ميکوري ته ترجمه کړ ، د ميکوري تندی له خوشالۍ نور هم پراخه شو او ويل يې څه ښه عجب تصادف چې ميرمن يې د جهان ملکه ده نو دی خو به خود بختور وي کنه .

دوی همدلته په خبرو او پوښتنو موښتنو اخته وو او گوډه ښوونکې هلته د عالم بي بي سره اخته وه او پوښتنې ايږنې يې ترې کولې د عالم بي بي هر څه ياد و خپله گوډه ښوونکې يې هم وپېژندله او د عکسونو شېبې يې هم ټولې يادې وې خو لنډه دا چې ميکوري د عالم

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې بي نور تصويرونه هم واخيستل او بېرته امريکا ته ولاړ ويل کيږي چې بيا يې دعالم بي بي له کورنۍ سره يو څه مرسته هم جاري کړه او تر ډېره په دې نه و خبر چې دا عالم بي بي هغه عالم بي بي نه ده چې ټول عالم يې تصوير ليدلی دی.

خير وخت و او تېر شو ورو ورو خلک خبر شول او تر ميکوري هم دا خبره ورسېده چې دا مهاجره ميرمن عالم بي بي هغه شين سترگې مهاجره جلۍ نه ده چې دوی لټوله او تصوير يې د مجلې پر پوښ چاپ شوی و او د نړۍ والو پام يې خپل کړی و .

همدا لامل و چې د نيشنل جيوگرافي خپرونې بله ډله د مهاجرې جلۍ د لټون په خاطر له امريکا پېښور ته راورسېده او بورت ميتسن د رحيم الله په ملتيا او مرسته بيا د خپلې ورکې پسې شول دا ځل هم ډېرو دروازو ته ودرېدل او ورو ورو يې د کار دروازه پيدا کړه سپين ږيرو ورته يو ښکلی ځوان هلک مخامخ کړ او ويل يې دا يې ورور دی رحيم الله ورته وويل ته څه نوميږې ؟

ځوان وويل زما نوم کشر خان دی بيا رحيم الله د مجلې پر پوښ پر انځور گوته کېښودله او ترې يې وپوښتل دا جلۍ پېژنې ؟

کشر خان ورخطا او هيبت وهلی ښکاريده خو بيا يې هم په مسکا وويل هو دا مې خور ده که څه هم پښتانه چا نه د خور ، لور يا مور د نوم پوښتنه نه کوي ځکه چې دود نه دی او يو ډول سپک او بد کار گڼل کيږي خو چون دلته په ډله کې له دوی سره ښځينه هم وې نو رحيم الله ترې په ارامه د نوم پوښتنه وکړه کشر خان سر ښکته کړ ځمکې ته يې وکتل او په ورو غږ يې وويل شربت گل نوميږي د ډلې مشر بورت ميتسن چې د کشر خان سترگو ته وليدل خوشاله او مسکی شو خپلو ملگرو ته يې وويل چې بې شکه همدا به يې ورور وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې سترګې يې ګټ مټ هماغه شان دي زما زړه پرې ګواهي ورکوي خو بيا هم وګورو چې څه کيږي پښتو کې متل دی وايي ورور ته يې ګوره او خور يې پرې نيسه يعنې اکثره خويندې خپلو وروڼو ته ورته وي يا اکثره وروڼه خپلو خويندو ته ورته وي دواړه خبرې يوه معنی لري يعني له يوې ختې جوړ شوي وي.

په دې وخت کې نو بيا هم خوشالي خوره شوه او هم يو ډول انديښنه او خفګان راپيدا شو ځکه چې تر ټولو حساس وخت راورسيد ، کشر خان هم يو ډول هيبت وهلي ، ترور او خفه ښکاريده ډله سړي او د يوې ميرمنې په هکله په عام ميدان کې پوښتنې او خبرې کول دا نو په دې ټولنه کې اسانه کار نه و او نه دی بلکې يو ډول ښکنځل هم بلل کيږي او ډير خلک خو لا مړي هم پرې کوي کشر خان د سل ډوله سوداګانو ، انديښنو او فکرو سره مخ و خو دا ښه وه چې د دوی سره هم ميرمنې په ډله کې وې او د کشر خان زړه په همدې خبرې لږ راټول و.

د ډلې مشر د پښتنو په کلتور خبر و نو ځکه په عينې خوشالۍ کې خواشينې او غمجن ښکاريده يوه شيبه چوپ و بيا يې په ډير ادب وويل که ممکن وي چې د دوی له ډلې يوه ميرمن کور ته ورشي او د پوره معلوماتو په پار شربت ګله له نږدې وګوري او فقط د سترګو تصوير يې واخلي ، کشر خان مخکې شو او ميلمنه ميرمن کيري ريګن يې کورته بوتلله ميلمنې کيمره راواخيسته او بيا يې د شربت ګلې د سترګو عکسونه واخيستل.

شربت ګله هم په کيسه پو شوه خو له بده مرغه مخ يې نور هم تک ژيړ شو او وبرې په مخه کړه دا چې په زړه يې څه تيريدل يو خدای خبر خو کوم شی چې ښکاره پرې هر څوک پوهيده هغه ددې ټولنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پښتنو دود او کلتور و ښايي هغه بيا هم له تورونو او سپکوالي وېرېدله ښايي له خپل خاوند او خسرگنۍ هم په وېره کې شوه چې پخوانۍ خبره او کيسه يې رابرسيره شوه.

بله دا چې ښايي خپل زوړ او سوځېدلي څادر هم ځوره وله چې د غريبۍ او ناداري ننداره يې ټولې نړۍ کړې ده او دا يې هم انگېرله چې ښايي په بل تصوير کې يې نړۍ والو شکېدلې څپلۍ او پيوند پيوند کالي هم ليدلي وي خو ددې ټولو اندېښنو او سوداگانو سره سره بيا هم په خپلې پاکۍ او ايمانداري خوشاله وه او د خداى شکرونه يې ادا کول او د عزت ، غريبي او د غيرت هجرت يې وياړ گاڼه.

د نشنل جيوگرافي ټيم ميرمن کيري لس دقيقې وروسته بېرته د خوشالۍ سره راووته کميره او عکسونه يې د ټيم مشر ته وښودل هغه هم خوشاله شو او په رنگ کې يې وينه وچلېده.

د ټيم مشر بيا غوښتنه وکړه او داخل پخپله د کشر خان او د شربت گلې د خاوند سره د شربت گلې څنگ ته ولاړل يو څو پوښتنې يې له شربت گلې نه وکړې:

شربت گلې ته يې خپل عکس وښودلو او ورته يې وويل دا عکس دې ياد دی ؟

شربت گلې چې خپل مخ په ټيکري کې پټ کړی و ورو يې وويل هو ياد مې دی همدا مې لومړنی او اخرنی تصوير و او دی.

بيا يې ترې وپوښتل دا عکس چيرته اخيستل شوی و او شا ته دې څه شی و؟

شربت گلې بيا ورو وويل دا زموږ سکول کې اخيستل شوی دی د رخصتۍ وخت و او شا ته مې د سکول خيمه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میتسن بله پوښتنه وکړه : دا ښادر دې ولې سوری شوی و ؟
شربت گلې وویل دا ښادر مې په اور سوی و.
په میتسن سم اختر شو او ملگرو ته یې وویل چې ټولې نښې یې سمې دي همداسې کیسه ما ته میکوري کړې وه.
دوی بېرته ووتل او ولاړل شربت گله حیرانه ولاړه او همدغو فکرو لاهو کړې وه چې ماشومې لور یې تر ښادر ونیوله شربت گلې سکوت مات کړ خپله لور یې غیږ کې ونیوله بېرته تورې کوټې ته ننوتله ماشومه لور یې غیږ کې واچوله ورو ورو یې ښوره وله او د خوب سندره یې ورته ویله:

اللو للو بچیه اللو للو
لکه گوډی د رنجو
اللو للو بچیه اللو للو
موږ کره مه ځئ غلو
اللو للو بچیه اللو للو
په بره کوڅه مه راځئ
په کوزه کوڅه ورو
اللو للو بچیه اللو للو
په کنج کې دوه منگي دي
هغه ډک دي له روپو
اللو للو بچیه اللو للو
کټوری پرې اړولی
یو د سپینو بل د سرو
اللو للو بچیه اللو للو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بختوره به مېجن کا**
**د څرېږ پورېږ زانگو**
**الله هو للو للو - الله هو للو للو**

لور يې سترګې پټې کړې او د خوب دنيا ته ولاړه خو مور يې بېرته ماشومه شوه او په ويښه بېرته د ناصرباغ کيمپ ته ولاړه بيا ښوونځي ته ولاړه د خپلو ټولو ملګرو سره يې وليدل ، خنداګانې ، ټوکې او مجلسونه يې وکړل ، د سر نه يې د کتابونو بکسه شاته واچوله بيا يې قلم لاس کې ونيوه او د خيمې لاندې د باران نه پټه شوه ، تفريح شوه بيا يې ډېرې منډې وکړې په يوه شېبه کې يې هم پټ پټونکي وکړ او هم يې چينترو وکړه تفريح خلاصه شوه وچه ډوډۍ يې له بکسې راوويسته پټه پټه يې خوړله چې ښوونکي وليده ، ډوډۍ يې ترې واخيسته او دا يې په نازکو لاسونو په شنو لښتو ووهله ، توبه يې پرې ويستله چې بيا به د سبق په وخت کې په ټولګي کې ډوډۍ نه خوري د رخصتۍ زنګ ووهل شو ماشومه شربت ګله بېرته کور ته راغله او د کور کارونو ته اړم شوه خو په ټوله لار يې د خپلې هغې ښوونکې خبرو په غوږونو کې انګازې کولې چې دوی ته يې ويل دلته راشئ دا عکاس مو عکسونه اخلي او بيا زموږ د ښوونځي سره مرسته کوي تاسو به ټولې غټې ښځې شئ څوک به ډاکټرانې شئ څوک به انجنيرانې شئ څوک به زما په شان معلمانې شئ او د خپل وطن بچي به وروزئ ، وطن به مو ازاد شئ جنګ به ځپلی وي او تاسو ته به يې اړتيا وي يوه مور چې زانګو زنګوي جهان هم زنګولای شي ، تاسو هره يوه به په سلګونو نورې جنګۍ او ماشومان وروزئ دخيره او....

(c) ketabton.com: The Digital Library



شربت ګله په توره کوټه کې د خپل تېر ژوند روښانه ننداره کوله سترګې یې ومښلې افففف خدایه توبه په رښتیا چې ځواني د باد سوارلي ده د ستوګو رپ کې ولاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نشنل جوگرافي خپرونې کاري ټيم بېرون ښه مطمين شو چې خپلې موخې ته ښه په بريالیتوب سره ورسېدل خو بيا هم يې د پوره او بشپړ ډاډ په خاطر بيرته امريکا ته ستانه شول او د شربت گلې د سترگو تخنيکي پرتله يې د اف ، بي ، ای په مسلکي غړو او پرمختللو وسايلو وکړه پايله يې دا شوه چې غوټې پسې وهې په لاس به درشي د دوی د مجلې پر پوښ نوم ورکې د شنو سترگو افغانه مهاجره جلۍ شربت گله نوميږي او لا خوشبختانه ژوندۍ ده.

امريکايان ، اروپايان او نور خلک اکثره شهرت او مشهورتيا ته ډېر خوشاليږي او په هر ډول چې وي هر څوک کوښښ کوي چې ځان د شهرت لوړو پوړيو ته ورسوي ، حتی هر کال د ډېرو هېوادونو ښکلې او نازکې جنکيانې د موډل او د نړۍ د ښکلا د ملکې د نوم او شهرت د خپلولو په خاطر خپل ځانونه او اندامونه لوڅوي او د يوې نړۍ والې سيالۍ په خاطر د سلگونو نارينوو او سيلانيانو په مخکې تېريږي او خپل اندامونه خلکو ته ښيي ترڅو شهرت او نړۍ وال مقام خپل کړي.

په طبيعي او فطرتي ډول هر انسان د شهرت او نوم هيله او شوق لري خو د پښتنو ټولنه بيا خپل ارزښتونه او ځانگړتياوې لري د خور او لور شهرت څوک نه خوښه وي او لکه د ټوپک ډز داسې بد يې بولي ډېرو غوښتل چې د شربت گلې احساس معلوم کړي او مرکې ورسره وکړي خو شربت گلې خپل دود او دستور مات نه کړ او په هيڅ ډول يې څه ويلو ته زړه ښه نه کړ.

ډېرو خلکو ته دا شان د شهرت يو ناڅاپي پېښه بلاتشبه لکه د جنت زيری وي او له امتيازاتو يې گټه او خوند اخلي خو شربتې ته يوه انديښنه او سر درد شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم د ښو اخلاقو ، ارام خوی او پاک لمنۍ له مخې په ټولو گرانه او د درنښت وړ وه خو بیا هم شربت گله خپله د خپل پښتون ضمیر نه بېرون نه شوه وتلای.

پښتنې میرمنې د درناوي له مخې نه غواړي چې تر خپل خاوند لوړ نوم او ډېر شهرت ولري خو خیر د شربت گلې نوم او شهرت نور هم ډېر شو او په نړۍ کې تر هر چا بیا ور ورسید که څه هم خپلوان او شا او خوا گونډیان یې لا تر اوسه خبر نه دي چې په کورنۍ یا گاونډ کې یې دا میشته سپره دبه غریبه ښځه د نړۍ ملکه ده.

همدا وخت و چې سټیف میکوري هم خوشاله شو او بیرته یې خپله دنیا راپیدا کړه ډلې ډلې خلک ، ژورنالستان او چینلونه راغلل او غوښتل یې چې دوی ته د مرستې لاس ورکړي او هره غوښتنه یې ومني خو دغې غریبې ، غیرتي او مړه خوا میرمنې هر څه رد کړل او په خپل عزتمند ژوند یې د خدای شکر ادا کړ.

ویل یې تیره چې پخپل ځای پرته وي نو درنه وي لکه گل چې خپل بوټي کې ښه ښکاري داسې زه هم په خپل ولس او خپلو خلکو کې ښه ښکارم زما ښایست زما خپل وطن او خړپړ خلک دي پردی وطن د مېړونو قدر کموي.

ډېرو خلکو سره دا سودا او وېره هم پیدا شوه چې دا د نړۍ وتلې او مشهوره ښځه څوک اختطاف نه کړي یا یې څوک د بې ځایه ننگ او غیرت په نوم ونه وژني نو ځکه ورته د خارج د تللو بلنې هم ورکړل شوې خو شربت گلې وار په وار رد کړلې او تر هر ځای یې پېښور ځان ته ښه او غوره وگڼلو شربت گلې ویل مرگ او ژوند د تقدیر لیک دی او د خدای کار دی په کومه ورځ چې چا ته مرگ لیکل شوی وي هغه نه بدلیږي او یوه ورځ به خامخا رارسیږي، خو د اختطاف او سړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تښتوونکو هم ځکه نه وېرېدله چې ویل یې زه پښتونخوا کې اوسېږم دلته ټول پښتانه دي ، غله او سړي تښتوونکي هم بل څوک نه دي او پښتون غل هم هیڅکله تور سرې او د چا مېرمن نه تښتوي.

دا نو د تاریخ داسې حساسې شپې وې لکه څنګه چې مخکې وویل شول د امریکا په حریم ترورېستي بریدونه شوي وو او امریکایانو یې پړه د القاعده په تنظیم اچولې وه د طالبانو د اسلامي امارت مشر امیرالمومنین د تورن اسامه بن لادن د ورسپارلو نه انکار کړی و او امریکایانو یې په زور اسلامي امارت ړنګ کړی و او نړۍ والې ټلوالې کرزی کابل ته راوستی و د جنګ اور لا په غرغرو و او هر چا له وطن او سیمې نه پښې ویستلې ، پټو هم د پچیري ورک و او پټ هم پچیری ګرځېدلو ، کور هم د افغان وران شو او په تېښته هم افغان و په همدې شپو کې هم ښځي ډېر افغانان اروپا او امریکا ته را کډوال شول او اکثره همدې هېوادونو د بشر دوستۍ له مخې قبول کړل او په خپلو وطنونو کې یې ځای کړل خو شربت ګلې ته په پرله پسې ډول ډېرو خلکو او هېوادونو د پنا بلنې ورکړې خو هغې بیا هم ونه منل او د پېښور ژوند یې غوره وګڼلو ، د دې ټولو په بیا بیا ټینګار او غوښتنه یې ایله دا ومنل چې د بیت الله شریف زیارت ته دې ولیږل شي دا وړاندیز یې سمدستي ومنل شو او د خپلې کورنۍ سره حج ته ولاړل.

د بوني میکوري په نوم یوې امریکایي میرمنې ورسره د رحیم الله په لاس مرسته کوله یو کور یې هم ورته اخیستی و چې دوی په کې اوسېدل ، حالاتو دا وخت ډېر څه بدل کړي وو پېښور هم اوس هغه پېښور نه و کوڅې ، ښار ، لارې ، غرونه ، سیندونه او هوا فضا هماغه وه خو بس خلک هغه خلک نه وو هغه احساس مینه او ورورولي د سیاست خړو ګردونو لاندې کړې وه هغه وخت به د پېښور خلکو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو افغانانو ورونړو سره د خپلې خولې کپله نیمایي کوله ، خپل کور، هجره او دېره به يې ورته پرېښودله او حتی د مهاجر نوم په ویلو به خفه کېدل او ویل به یې چې دا ستاسو خپل کور او خپله خاوره ده یوه وینه او یو تن یوو مګر اوس په کې د پښتنو صوبایي حکومت افغانان خو لا څه چې ان د پښتنې شربت ګلې غونډې د پېښور د څنګ ځای او سیمې میرمنه هم پردۍ او د بل ملک ګڼله د افغانانو همدې تنګولو شربت ګله دې ته څو وارې اړویسته چې پېښور سره خدای پاماني وکړي خو دغه کونډه مېرمن د خپلو بچیو د تعلیم او زده کړې غم او د خپل خاوند مینې او سترګو راتېنګه کړې وه او نه یې شو کولای چې د رحمت ګل او خپلې لور هدیره او قبرونه یوازې پرېږدي په همدې ذهني کشمکش کې یې باالاخره پرېکړه وکړه چې نور ځان او خپل اولاد د پېښور د ظالمو او بې رحمو پولیسو د مصبیت نه خلاص کړي او خپل کلي ته بیرته کډه شي.

د شربت ګلې بي بي پلار لا ژوندی و چې بېرته خپل کلي ته ستون شوی و میره او خویندې یې هم په کلي کې وې او د ناامنۍ سره سره په کر کیله اخته وې.

خدای بخښلی رحمت ګل چې ژوندی و کله کله به شربتې ورته هسې ټوکتن ویل چې:

زه خیالي مومنده یمه

ما واړوه وطنه ته څمه یاره نادانه

رحمت به مسکی شو او ویل به یې لکه چې بیا دې د پلار کور او کلی رایاد شو چې ما په غوږ وهې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلا دا د گلنار بیگم پخوانۍ مشهوره سندره وه خو بس شربتې به هم د ناز نه خپل د ژوند ملګري ته یاره نادانه ویل ښکاره به مسکې وه خو دننه زړه یې لکه انار له سرو او تورو وینو ډک و دا یې هیڅکله زړه ته نه راتلل چې ووایي:

زه خیالي مومنده یمه
ما واړه وه وطن ته څمه یاره رنځوره

ځینې خلک وایي جوړې خدای په خپله جوړه وي د دوی جوړه هم بې جوړې جوړه وه رحمت ګل هم د خدای یو نیک بنده و که څه هم په داسې چاپیر چل کې شوی او رالوی شوی و چې ښځه په کې د دودونو او کلتور ښکار وه له هر څه بې برخې وه او یا کور او یا ګور یې ځای و خو رحمت ګل داسې نه و د غریبۍ او رنځورۍ سره سره بیا هم یو مهربانه خاوند و ، ښځه یې د کور نور او ډېوه ګڼله او بې ښځې کور یې هسې تشه کنډوله او هدیره بلله.

یوه لور یې مړه شوې وه درې لوڼې یې ژوندۍ وې او ټولې یې نازه ولې وې د خدای په ورکړه بېخي خوښ او راضي و ملګرو ته به یې ویل زه د کلي او د غره سړی یم زیړ بیګ پښتون یم خو انسان یم او د هر انسان په قدر پوهیږم تل به مسکی او خوشاله ښکارېده.

خو خیر داځل شربت ګلې غوښتل چې نوره کډه شي خو په همدې وخت کې د شربت ګلې او د رحمت ګل د خاپوړو کلي او ولسوالۍ یوې بلې نوې ډلې نیولې وې دا ډله داعیش نومېده لښکر یې تورې جنډې او پټ مخ ګرځېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي باران په تيرا ووريد او خره يې د لړمو‌ړي يوړل د داعيش ډله په عراق کې د اسلامي خلافت په نوم ناڅاپي راپيدا او په منډه منډه مجهزه شوه هغوی په خپله ډله نوم د خپل شعار له مخې داعیش کېښود د عربي په عاميانه او سيميزه ګړدود کې يې معنی احده عشره يعني يوولس او د سوونو کلونو مخکې په شان يې بېرته د عراق او شا او خوا يوولسو عربي هېوادونو يوځای کول او يو دارالخلافت جوړل غوښتل مګر له عراق او عربي هېوادونو بېخي لرې يې دولسم ملګری هم ورپيدا کړای شو.

د پښتونخوا دصوبايي حکومت د چارواکو په زړونو د شبر وېښته ولاړ و د افغانانو سر د ظلم او د ناروا چلند يې نور د شربت ګلې زړه پړسولی و او ددې ټولو خطرونو ، ننګونو او مصيبتونو سره سره شربت ګل خپل کور په خرڅ کې واچولو او ورو ورو يې ځان راټول کړ خو د تګ نه مخې پرې د پېښور او پنجاب واکمن خبر شول د کونډو ځانګړي پوليس يې کورته د ټولو اسلامي ، انساني او پښتني اصولو خلاف ورننوتل واړه يتيمان يې ووېرېدل او فکر يې وکړ چې په رڼا ورځ پرې غله راننوتل شربت ګلې ژر خپل ټيکری پر سر سم کړ او رامخکې شوه هغې فکر کاوه چې دا خو ټول پښتانه دي او لکه د وروڼو په سترګه يې ورته کتل خو داځل هغه تېروتې وه او دغو وروڼو يې ورته د پوڼي او ګلانو پر ځای زولنې راوړې وې.

د پوليسو مشر زولنې لاس کې نيولې وې او د شربت ګلې سره يې خبرې کولې خو شربت ګل په پنجابی ژبه نه پوهېده د پوليسو مشر ور نږدې شو شربت ګله ترې په شا شوه او غږ يې وکړ چې دا سړی څه وايي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور پولیسان غلي ولاړ وو شربت گلې اخوا دیخوا وکتل کوم سوباړی او کوتک په نظر ورنغللو خپله څپلۍ یې له پښې راوویسته او په لاس کې یې ونیوله بیا یې غږ کړ تاسو کې څوک پښتون شته ؟

پولیسانو لاندې ځمکې ته کتل د پولیسو مشر هم غږ کړ چې دا ښځه لکه چې زما په خبرو پو نه شوه تاسو یې پو کړئ چې ودریږي او دا زولنې ورته لاسونو کې واچوم.

د مشر د امر سره یو پولیس شربت گلې ته وویل چې موږ ستا د نیولو دپاره دلته راغلي یوو او دا زولنې مو تا پسې راوړي دي. شربت گله هک پک او حیرانه ولاړه وه او څپلۍ یې لاس کې ټینگه نیولې وه.

ځانگړو کونډو پولیسو تک تور یونیفور اغوستی و او مخونه یې هم پټ و.

شربت گل وویل : که دا ستاسو تور پنجابی مشر رانږدې شو نو زه یې په دا څپلۍ په دا مخ مخ وهم.

پولیس بیا ورته وویل خورې دا سړی نه دی ښځه ده او ځان ورته تسلیم کړه.

شربت گله نوره هم په غوصه شوه او پولیس ته یې وویل : مرگ دې مېلمه شه بې ننگه ته لا ماته خور هم وایې ، زه غریبه ښځه یم که څه هم په خپلې کړې گنا نه یمه خبره او نه پوهېږم خو بیا هم د حکومت د زوره نه یم او نه ور سره زور اړمولای شم خو دا مې واورئ چې هیڅکله به مې دا پنجابۍ یا پنجابی لاسونو ته زولنې راوانه چوي دا پېغور نه خپلو بچو ته پرېږدم او نه هم ستاسو پښتنو بچو ته.

بس دې ښځې ته همدومره وایه چې ما ته نږدې رانه شي زه به پخپله دا زولنې خپلو لاسونو ته واچوم او تاسو سره به ولاړه شم خو پام مو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي زه پښتنه یم او همدا یوه خبره مې ده که یوه وړه اشتبا مو وکړه گوره بیا به مې مړی له دې ځایه پورته کوئ.
کونډو پو شول او زولنې شربت گلې په خپله خپلو لاسونو ته واچولې او روانه شوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# شپږمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ماجان نازولې شرو او د نړۍ بې وزله ښاپېرۍ هيڅ نه پوهېده چې ولې يې پاکو لاسونو ته د شنو او سرو بنګړيو په ځای تورې زولنې ورواچول شوې ځوانيمرګ او بې وزلۍ خوړلی رحمت ګل يې سترګو ته نېغ ودرېد هغه به د خپلې رنځورۍ په وخت کې کله کله ملګرو ته په خپلې ځانګړې وزيرواله او خوږيانۍ لهجه ويل چې زه روس او امريکا مات نه کړم خو دې ناځوانه د تور زېړي مرض مات کړم بيا به يې شرو ته ويل څه خير که زه نه وم نه به يم خو پېښور او پېښوريان دې ټول خپل دي د پرديتوب احساس به نه کوئ په همدې سوچونو کې پوليسو بوتله او د زندان دروازه يې ورپسې راوتړله.

پېښور او شا خوا سيمې يې د ګندهارا او د افغانانو د بېلابېلو تمدونونو مرکز او مهم ځای پاتې شوی دی د افغانانو او په ځانګړي توګه د پښتنو د کلتور ، ثقافت ، ادب ، سياست ، مذهبونو او دودونو لويه او غوښنه برخه او زېړنده په همدې چاپيريال کې شوې ده او کيږي د پښتنو د ادب او سياست لوې ستې همدلته زېږېدلي دي داسې لوی شخصيتونه لکه غرونه ، د افغانانو او په ځانګړي توګه د پښتنو د ادب او ثقافت ستنې همدلته خښې دي او د پښتو ادب چت او بام يې تر اسمانه اوچت کړی دی خوشال چې د ټولو پښتنو بابا دی شخصيت يې جامع الکمالات دی او تر اوسه د نړۍ پر مخ داسې اديب ، ليکوال ، طبيب ، ټولنپو ، شاعر او جنګيالی نشته چې د خوشال بابا د ټولنيز او ګڼ اړخيز شخصيت سره پرتله شي ، د رحمان بابا ، حميد بابا ، باچا خان ، غني خان او حمزه بابا شخصيتونه هم نړۍ وال دي او سيالان يې په سيمه کې نشته ، پېښور د تيمور شا د ژمي دارالحکومه او پلازمينه وه او ډېر نور تاريخي واقيعات.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو که پېښور څوک د افغانستان او افغانانو ، نه بېلوي دا مطلب چې د یوه جسم نه سترگې او زړه ویستل غواړي او دا هیڅ امکان نه لري.
احمد شا بابا هم په خپل پېښور او پښتونخوا وطن مین و او د ډهلي تخت یې ترې ځار کړی دی.
شربت گلې سره د ځان او خپلې کړې گنا هیڅ سوچ نه و خو د یتیمانو لورگانو او د درې کلن زوی سودا او غم په سر اخیستې وه.
شربت گل ته ځان د خدای یوه بې کسه او غریبه میرمن ښکارېده او ټوله اسره یې فقط د خپل خدای دربار ته وه او بس.
شربت گله خیال کې ولاړله ځان ورته زمرۍ ښکاره شوه سترگو ته یې د روسانو او نورو بهرنیو یرغلگرو لوې لوې لښکرې ودرېدې چې د دوی د نیولو په هیله یې ککرې خوړلې وې مگر په خپلو لاسونو کې یې چې د اسلام اباد د داخله وزیر چوهدري نثار پنجابي زولنې ولیدې سوړ اسویلی یې وویست خدایزده چې په زړه کې یې بیا څه تېر شول خپل پښتون پولیس ورور ته یې ډېر په افسوس وروکتل ، پر زړه یې اور بل و له سترگو یې لمبې ختلې ښایي غوښتل یې چې دغو پښتنو ته ووایي چې تاسو ته مې په لاسونو کې خپل بنگړي اچول خو ارمان چې کونډه ښځه یم او مړوندونه مې تش دي.
یو څو د بې وسۍ او ننگ غیرت ټپې یې ځان سره زمزمه کړې او د زړه تاو یې لږ سوړ کړ:

باغ چې د زاغ په حواله شو
بلبل نرۍ فریاد کوي له باغه ځینه
ټول مې د زړه په سر راټول شوې
میرات شې غمه په خندا دې تېرومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خولې مې تورې وينې ولاړې
بې ننګه ورور مې زه په زړه ويشتلی يمه
د لرې مرم له نږدې سوځوم
د پښتونخوا نه مې زړه کله صبرومه
بابا دې ما وژلی نه دی
چې دې راوچول لاسو ته زنځيرونه
بې ننګه ننګ راباندې وکړه
سبا به نېغه تاووې شمله پښتونه
په جدايۍ دې خفه نه يم
خفه په دې يم چې رقيب دې لمسوينه
پر مخ مې مه وهه ظالمه
د اوښکو ډکې سترګې چا ته واړه ومه
تن مې د سرې نکريزې پاڼه
ظاهر تازه دننه رنګ په وينو يمه
اسمانه درز وهه راولېږه
په ما قيامت دی چې په ټولو قيامت شينه
خاونده دا به دې رضا وي
چې د ځوانۍ عمر په غم کې تېرومه
ايمان دې ښه راته معلوم شو
په لباسي بريتو دې مه وهه لاسونه
اول به کله کله غم و
اوس مې دفتر شو کروندې په کې کومه
نصيبه وسوځې ايره شې
تنديه مات شې تا کې څه ليکلي دينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه به اینځر دورځې ګل شي
نه به زما زړګي د غمه خالي شینه
لکه د مور راباندې ګران دی
په پنجاب کله ګل وطن خپل ورکومه
بلبلان ټول په ژړا ژاړي
بورا په توره خولګۍ وخوړل ګلونه
تا چې پر مخ څپېړه راکړه
زه به نو سترګې خپلې چا ته اړومه

خو خبره نه وه چې ددې په نیولو به ټوله نړۍ د سترګو په رپ کې خبرېږي همداسې وشول او د مظلومیت خبر یې ټوله انساني نړۍ حیرانه کړه د پېښور او اسلام اباد چارواکو همدا غوښتل او هیله یې بریالۍ شوه دا وخت بره په افغانستان کې د اشرف غني حکومت و د نړۍ ټول پام پورته راګرځېدلی و.
اشرف غني په دا تېرو څلورو لسیزو کې د افغانستان هغه منتخب ولسمشر و چې علمي او اکاډمیک شخصیت او پېژندنه یې درلودله نړۍ ورسره ولاړه وه ، لاسونه یې د هیچا پر وینو سره نه و او بله دا چې اشرف غني لکه ددې نورو رهبرانو غوندې د پاکستان نمک خور نه و د دوي تر اغیز لاندې د راتلو امکان یې هم نه و نو همدا لامل و چې تر انتخاباتو وړاندې پاکستان پوهېده چې غني غني دی او د دوی په لاړو به لوند نه شي نو هماغه وخت یې ورپسې پروپاګند کولو او په ټول امکان یې هڅه کوله چې بدنام او شخصیت یې د افغانانو د پامه بد کړي خو د دوی د ټولې بدنیتۍ سره سره بیا هم افغان ولس غوره او انتخاب کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غني شعار د غني افغانستان و او په همدې سلسله کې یې د ټولې نړۍ او په ځانګړي توګه د خپلو ګاونډیو هېوادونو سره ښې او د دوستۍ اړیکې غوښتلې چې یو زموږ د ګاونډیو نه د هند لوی او تاریخي هېواد و.

افغانانو د هند سره له پخوا زمانې نه ښې او د دوستۍ اړیکې درلودلې او تل د تاریخ په اوږدو کې دوستان پاتې شوي دي په افغانستان تل پردو بریدونه او یرغلونه کړي دي خو افغانانو د تاریخ په اوږدو کې تل خپله دفاع کړې ده او هیڅ وخت یې د خپلو ګاونډیو په حریم تیری نه دی کړی.

هو احمدشا بابا تر هنده تللی دی او ډهلي کې واکمن پاتې شوې دی او دا د هغه وخت د سیاسي ، کلتوري ، مذهبي او جغرافیي ثبات او استقرار په خاطر و.

هند د نورو د بریدونو او ګواښونو سره مخ و او هند د احمدشا بابا ګاونډ و په هند کې په ملیونونو مسلمانان او همدارنګه افغانان اوسېدل په سیمه کې د وخت تر ټولو لوی د کار بار او اقتصاد مرکز و نو همدا لامل و چې احمدشا بابا د خپل ګاونډ د ثبات او د خپلو خلکو د ساتنې په منظور تر ډهلي تللو او د نورو د برید نه یې ساتلو هغه پښتانه او افغانان چې هلته میشت وو او اوس هندیان دي تر ټولو تکړه او کاریګر خلک وو چې یوه ښه او ړنه بېلګه یې د هند د فلمي انډسترۍ کارکوونکي ، هنرمندان او فلمي ستوري دي چې نن سبا یې د هند نوم او کلتور تر ټولې نړۍ رسولی دی او ددوی مطلق اکثریت په اصل او خټه هماغه افغانان دي چې احمدشا بابا یې د ژوند ، پاللو او ساتلو اندېښنه درلوده او همدا ډول پرعکس په اوسني افغانستان او پښتونخوا کې هم هغه وخت ډېر هندوان او سکهان اوسېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانان وو او احمدشا بابا يې واکمن و همدا لامل و چې انگريزانو هم بيا وروسته د پښتونخوا والي رنجيت سنگهه ټاکلی و چې د هندي سينما د کپور مشهوره کورنۍ او نور لا همدلته پښتونخوا کې میشت وو.

که احمد شا بابا يرغلگر وای نو په فارس او نورو گاونډيانو به يې بريدونه کړي وای چې تر هند يې ورته نيول ښېخي ډېر اسانه وو:

نن بيا هسې د گلزار په ننداره ځم
چې له ياره سره خوښ هم کناره ځم
چې بر کړی مې خدای لاس په رقيبانو
ترو به زه د هند پر لور په تماشه ځم
چې د هند د ملکو فتحه مې روزي شوه
نور ايران لره په توغ په نغاره ځم
پر دا کړي داد د خدای نه شی پښېمانه
تر نگين مې ايران لاندې شاهانه ځم
زه تسخير د ولايت د خدای په داد کړم
په مدد د حبيب هره خوا تازه ځم
احمد شا دنيا فاني گڼم چې نشته
دنيا پاته له ايمانه به اسره ځم

په هر حال دا وخت د هند مرستې او اړيکې هم د پخوا په شان ډېرې شوې وې او د لر او بر افغانانو او پښتنو مينه او اړيکې هم لا پسې غښتلې شوې وې ډېر فکرونه سره رانږدې شوي وو او واټنونه رالنډېدل نو د شربت گلې نيول او په اصطلاح سپکاوی يو ډول دسيسه وه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د برو پښتنو ذهنیت د لرو او ښکته وروڼو افغانانو په وړاندې وننګوي ، بد یې کړي او د وروڼو تر منځ بیا سیاسي واټن ډېر کړي.
ماشومان یې په چیغو او واویلا لاس تر زنې پاتې شول لیور یې راغلو خپل وریرونه یې غېږ کې ونیول او حیران ولاړ و یوه شېبه وروسته یې جیب ته لاس تېر کړ ټلیفون یې راواخیست او هغه پخوانی خبریال رحیم الله یوسفزی یې خبر کړ.
رحیم الله هم ډېر حیران او خواشینی شو د رحمت ګل ورور شمشاد ته یې ډاډ او تسل ورکړ ځنګه یې چې د هغه سره خدای پاماني وکړه سمدواره یې ځایي چارواکو ته زنګونه ووهل او د شربت ګلې نیول یې د حکومت یو غلط کار وبللو چوندر نثار ځان ناخبره کړ او رحیم الله ته یې وویل چې ډېر ژر به بېرته ایله شي.
خو تر نیونې مخکې هم د چوهدري نثار په پټ امر د شربت ګلې په نوم ټولې مرستې ودرول شوې وې او د اخر ځل دپاره رحیم الله ته د بانک له خوا اجازه ورنه کړل شوه چې د بوني له خوا شوې مرسته د پخوا په څېر را واخلي او د شربت ګلې کورنۍ ته یې وسپاري.
شربت ګله سوالګره نه وه او نه یې چا ته د سوال لمن غوړه ولې وه بلکې د ډېرو خلکو او خپرونو د مرستو له خپلو او اخیستلو یې انکار کولو خو بیا هم دا وروستۍ مرستې ورسره د یوه قرار داد له مخې بوني میکوري کولې او ښایی لامل به یې همدا و چې د شربت ګلې تصویر او نوم د نشنل جیوګرافي خپرونې اداري ته د خوشبختۍ له مخې ډېر شهرت او مالي ګټه رسولې وه او دا مرسته د هماغې سرچینې له خوا د یوه سالم حق په توګه راتللې.
د شربت ګلې د نیولو خبر خپور شو او د نړۍ خلک هم حیران شول حیرانتیا په دې کې وه چې شربت ګله کلونه هم دلته اوسېدله

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کله یې یو میړی هم نه و ازار کړی خو بیا هم د یوې غیرې قانوني مهاجرې په نوم ونیول شوه په داسې حال کې چې په همدې ښار او شا او خوا سیمو کې په زرگونو افغان جنگیالي اوسیږي او پالل کیږي د افغان حکومت مخالف مشران ټول همدلته شا او خوا ښکاره غیب دي د امریکا په ټرید سنټر تر برید وروسته د القاعد عرب غړي ټول همدلته ژوندي جاړ تر ننه غیب شول اسامه په دومره لوی ځان او د نړۍ والو د دقیق څار سره سره بیا هم کلونه کلونه همدلته ساتل شوی و او لکه غټ اوښ په بډه وهل شوی و خو بې وزله شربت گله نوره د زغم وړ نه وه.

په همدې وخت کې افغان سفیر عمر زاخیلوال او اشرف غني هم د شربت گلې د ایله کیدو غوښتنه وکړه او ، له هرې خوا غبرونه راپورته شول له پنجابیانو لاره لودن ورک شو وروستۍ پریکړه یې دا شوه چې شربت گله غریبه د کالیو او کور راټولو ته هم پرېنښودل شوه او د دوی په اصطلاح د پاکستان د خاورې نه یې وویسته.

اشرف غني ورته د ارگ دروازې پرانیستلې او د لیدو بلنه یې ورکړه.

د شربت گلې ماشومان ډېر وېرېدلي وو د ټولو رنگونه تگ ژېړ اوښتي وو لکه د چرگې معصوم بچي چې ټپوس وېرولي وي ټول د خپلې مور نه راتاو وو.

مشرۍ او دویمه یې غټې وې خو دریمه لور یې مبینه او درې کلن معید لا بېخي کوچنیان وو ، مشرۍ هیڅ نه ویل ځکه مشره وه او په ډېرو خبرو پوهېدله.

دویمه لور یې هیبت وهلې وه او وچو شونډو یې له خفگان نه پټري نیولي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبینې ژړل ښه ډېر یې وژل زړه یې سپک کړو او ببا یې په وړو وړو سلگیو کې له خپلې مور نه پوښتنې شروع کړې مورې ته ولې پولوسانو ونیولې ؟

هسې یې نیولې وم هسې ولې ، تا خو ویل چې بدکاره ، غله او قاتلان پولوس نیسي تا څه کړي و ؟

مور ورته ببا وویل هسې هیڅ خبره نه وه. ښه مورې اوس چېر ته ځو ؟

مور ورته وویل خپل وطن ته ځوو بیا یې وویل هلته خو جنگ دی او تا ویل چې کلي کې اوس څوک نشته ؟

مور ورته بیا وویل هو بچیہ کلي کې خو لا جنگ دی خو مورږ کلي ته نه ځوو اوس.

نو چېرته ځوو ؟

کابل ته ځوو دخیره

کابل کې څه کوو ؟

پاچا غوښتي یوو هغه گورو مبینه بیا په ژړا شوه او ویل یې مورې بیا پېښور ته نه ځوو زه د پولوسانو، نه وېرېږم مور ورته وویل نه بچیہ پېښور هم زمورږ خپل وطن او خپله خاوره ده بیا به دې هم د پلار جان زیارت ته ورځوو دخیره پلار دې خپل وطن کې خښ دی میبنې بیا وویل نه مورې د پېښور پولوسان ډېر ظالمان دي.

مورې زمورږ پاچا څوک دی ؟

زمورږ پاچا اشرف غني دی ښه مور جانې زه خو ورته وایم چې زما مکتب همدلته رابدل کړي زه بېرته پېښور ته نه ځم او تا هم نه پرېږدم.

مور ورته وویل خیه سمه ده بیا ژر بېرته نه ځوو.

درې کلن معید هم په وړه ژبه پوشتنې شروع کړې مورې ته هغه پولوسانو ولې مورږ نه بوتلې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



موربې بیا خو درپسې نه راځي کنه ؟

نه نه بچیه بیا نه راځي ښه.

ماشومانو همداسې پوښتنې کولې شربت گلې هر یوه ته سر ښوررولو او نوره فکرونو زنگوله .

د ملک پاچا غوښتې وه او ارگ ته بلل شوې وه خو داسې خفه وه لکه څوک چې غرغره کیږي او د اعدام کړی ته یې روان کړی وي.

شربت گلې سره د پاچا او د ارگ د لیدلو د شوق په ځای د خپلې جونگړې او کور کالیو غم و چې هر څه ترې په سپین میدان پاتې شول:

پېښور نه چې کابل ته کله تلله
لکه ټال پر ټوله لاره زنگېدله
په گرېوان کې یې جاله هم ډوبېدله
دومره ډېره شربت گله ژړېدله
پېښور یې د نیکه په قباله و
اوس د جبر نه د بل په حواله و
زېږېدلې په لمن کې د سپین غر وه
لویه کړې خپله غیره کې خیبر وه
که کابل که ناصرباغ که اشنغر و
یو یې زړه او بل یې سترگې او ځیگر و
په خپل کور چې پردی اغیار گڼله
په همدې خبره ډېره ځورېدله
پاکه مینه یې غوښتله له مجنونه
د خپل ورور نه د سکه ستره پښتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم دا په نړۍ کې ملکه وه
خو په خپل کاله لا هاغسې سپېره وه
په درنو جامو کې پټه وه درنه وه
دا مومنده وه په ختّه پښتنه وه
په خپل کور کې پردۍ اغیار بلله
په همدې خبره ډېره ځورېدله
پېښور نه چې کابل ته کله تلله
لکه ټال په ټوله لاره زنگېدله
په گرېوان کې یې جاله هم ډوبېدله
دومره ډېره شربت گله ژړېدله
لا ماشومه وه بېخي وړه جلۍ وه
چې وطن کې یې د غم سپېره سیلۍ وه
راپرېوتې پر شین فصل سره ږلۍ وه
دا د پلار پر اوږو بار لکه سپوږمۍ وه
بې وزرو او بې ځالې شان مرغۍ وه
پښتونخوا پورې راغلې بې مستۍ وه
دا په دومره لوی عالم کې وه بې کوره
دا په دومره مخلوقاتو کې بې موره
په خېمه کې بې له اوره بې له سکوره
نازولې به خوړله ډوډۍ سپوره
په بېدیا کې به پر خاورو لوبېدله
لکه گل په دامانه کې غوړېدله
په الف او بې چې لږه شوله پوهه
د درېیم ټولگي نه خواره شوله گوښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میرې سره په کور کې کارېدله
لکه ژرنده ټوله ورځې تاوېدله
لا راغلی پرې سم نه و پېغلتوب
هم واده شوه هم پرې راغلو کونډېتوب
بس د خوارې برخه خواره وه ازل نه
ځورېدلې وه ښه ډېره د اول نه
یتیمانو سره پاتې وه رنځوره
خپل برخلیک باندې راضي وه دغه حوره
بس د خدای هیلې ته هسې اوسېدله
لکه شمعه په تیارو کې سوځېدله
پېښور نه چې کابل ته کله تلله
لکه ټال په ټوله لاره زنگېدله
په گرېوان کې یې جاله هم ډوبېدله
دومره ډېره شربت گله ژړېدله
اوس هم ځوانه وه خو خواره وه زړه وه
هغه وخت چې ښوونځې کې وه وړه وه
یو عکاس یې ښوونځې ته و راغلی
او ساده تصویر د دې یې و ویستلی
له حیا یې و پلو خوله کې نیولی
سوځېدلی ټیکری دې و پر سر کړی
ښکلې مخ کې یې رڼا د مظلومیت وه
مسکۍ وه خو خوړلې محرومیت وه
پیوند شوې یې زړې زړې څپلۍ وې
غم نه سرې وې خو شنې سترگې یې مرۍ وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډیوې په شانتې غبرگې ځلېدلې
د سپوږمۍ په شانتې ښکلې پړکېدلې
دا د لوی قام یو ساده شانته تصویر و
چې مات کړی یې د روس قوي زنځیر و
خدای په خپله پیدا کړې ښاپېرۍ وه
جنگ ځپلې اوس دغه خواره جلۍ وه
مهاجره ترهېدلې دا هوسۍ وه
خو په سترگو کې یې مینه وه نړۍ وه
بس تقدیر و او یو څه کار د هنر و
دا ساده باده تصویر لکه خنجر و
نو چې یو ځلې لیدلی هر دردمند و
بس د اوښکو څڅولی یې درمند و
په نړۍ کې مشهوره کور په کور وه
د هر چا نظر کې خپله سکه خور وه
هسې ډاگ و خو بس نوم یې ناصرباغ و
نه اوبه وې نه رڼا وه نه څراغ و
پنجابیانو که گڼله مهاجره
خپل وطن کې پښتنه وه مسافره
خپل قسمت نه که هر څه وه مروره
خو په خوله یې وه د یو افغان سندره
دښمنانو په همدې دلیل نیوله
تور زندان کې وه پرته دغه بلبله
پېښور نه چې کابل ته کله تلله
لکه ټال په ټوله لاره زنگېدله

(c) ketabton.com: The Digital Library



په گرېوان کې يې جاله هم ډوبېدله
دومره سخته شربت گله ژړېدله
پېښور يې د نيکه په قباله و
اوس د جبر نه د بل په حواله و
زېږېدلې په لمن کې د سپين غر وه
لويه کړې خپله غيره کې خيبر وه
که يو خوا مومندره بل اشنغر و
يو يې زړه او بل يې سترگې او ځيگر و.

يو بل چا هم مخ ورواړه ولو او ورته يې ويل خورې دا ماشومان دې رښتيا وايي که شکونړ حلال دی خو شکل يې د مردار دی ، د پېښور پوليس که پښتانه دي خو دا يونيفورم يې بدرنگ او د پردي قام په تن دی ورکه وه يې که زما منې نور د پېښور نوم په خولې مه اخله. شربت گله له تاوه تکه سره شوه او خوله يې راخلاصه کړه : که دوی هر څه وايي خو ماشومان دي د دنيا له حاله خبر نه دي په دې لا نه پوهيږي چې له سېره څو پخيږي ، خو ته ولې داسې وايي ما ته د پېشور او کابل هيڅ فرق نشته دواړه زموږ وطنونه دي او زموږ خپله خاوره ده د چارصدې او د گنداو مومندان څوک دي ټول زما عزيزان او خپلوان دي ، د لواړگي شينواري ، اپريدي ، وزير ، بېټني ، کاسي ، بنگښ ، خټک ، يوسفزي او اڅکزي دا ټول څوک دي او د چا وينه په کې چليږي بيا داسې مه وايه اوبه په ډانگ نه بېليږي او نه نوک له ورۍ جلا کيږي خير اوس حالات خراب دي خو خدای به خير کړي موږ به يا يوو او يا به نه يوو خو دا دولتونه به نه وي او دا ملت به بېرته تر اټکه يو لوی ملت وي هغه دې نه دي اورېدلي چې وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د خیبر دره خو لار د تلو راتلو ده**
**په کابل او پېښور کې افغان یو دی**

په همدې خبرو خبرو کې شربت گله ، لیور او ماشومان یې باالاخره ارگ ته راغلل او د خپل پاچا میلمانه شول اشرف غني د شربت گلې یتیم زوی لکه یو مهربانه پلار په غیږ کې ونیوه ښکل یې کړ په وړه ژبه یې ورسره ستړمشي او خبرې وکړې.
معید د خپل پلار له مړینې وروسته زېړېدلی و د لومړي ځل دپاره یې د پلار خوږه مینه ولیدله شربت گلې له بوقرې سر راویستلی و او د پاچا د میرمنې بي بي گل تر څنگ ولاړه وه.
بي بي گل چې خپل نوم یې رولا سعاده غني و د سپین سري ولسمشر غني سپین سرې میرمن وه په ختّه د لبنان مسیحی عربه وه چې غني سره د زده کړو په مهال د بیروت په امریکایي پوهنتون کې بلده شوې وه بي بي گل نه مسلمانه وه او نه هم پښتنه وه خو د شربت گلې یتیمه لور مبینه یې په خپل ځیگر پورې کلکه نیولې وه او د یوې رښتینې مور او نیا مینه یې ورکوله ولسمشر غني شربت گلې ته د سر په ښورولو ستړمشي او ښه راغلاست ووایه ، خپل وطن ته د راتگ مبارکي یې ورکړه تر ټولو خبرو وروسته یې ورته د یوه نوي او ښکلي کور کلي وروسپارله او د بچو د تحصیل او زده کړې سپارښتنه یې پرې وکړه.
فقیر ته یوه دروازه پورې او سل بېرته ، شربت گله هم ډېره خوشاله شوه چې خپل وطن ته راغله او په عامه اصطلاح خپل پاچا یې تود هرکلی وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شربت گلې د خپل مهربانه پاچا نه مننه وکړه او ورته يې وويل سل دې ومري خو د سلو سر دې نه مري ستا د سر سيوری دې زموږ پر سر وي خو زړه او د سترگو تور ترې په پېښور کې پاتې و د رحمت گل هديره يې نه وه هېره او ويل به يې چې دې ظلمانو دومره هم پرېنښودم چې د رحمت گل مړی خو خاورې شوی وای د خپلې رنځوری نه هم کړېدله او فکر يې کاوه که زه هم لکه رحمت گل د تور زيړي ښکار شم نو دا بچي به مې خوار او زار شي همدې سودا اخيستې وه خو دومره صابره ښځه وه چې هيڅ وخت يې شکايت نه کولو هر درد يې په خپل زړه تېرولو او پټې پټې يې د اوسپنې نينې چيچلې ان پاچا ته يې هم څه ونه ويل او هر څه يې د تقدير په نوم د ځان سره ساتل خو دا وخت هغې د ډېرو خلکو زړونه خپل کړي وو ډېر خلک يې په مظلوميت خبر وو او هر چا غوښتل چې مرسته ورسره وکړي خو شربت گلې د هيچا مرستې ته خپلې سترگې نه وې خړې کړې او په دې هکله بېخي بې پروا وه ، په دې شپو کې اسلام اباد د تورخم دروازه هم د رنځورانو افغانانو په مخ تړلې وه او ډېر افغانان هند ته د درملنې له پاره تلل.

هند د افغانانو دپاره ډېرې اسانتياوې برابرې کړې وې هغه رنځوران چې به پخوا پېښور او لاهور ته تلل اوس ښه په اسانه هند ته تللای شول نو د همدې امله يې د هند د حکومت د درملنې بلنه ومنله او هند ته د درملنې دپاره ولاړه.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**